# ټاکنیز اصلاحات: د استازو لیدلوری

۱۳۹٤

## مننديونه

د دې سروې ترسره کول او د رپوټ جوړول يې، په موسسې کې زموږ د همکارانو د نه ستړي کېدونکو هڅو او هم له دې موسسې سره د ملي شورا (دواړه جرګې په تېره بيا ولسي جرګه) د پرله پسې همکاريو پرته شونی نه و. د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو موسسه (فيفا) په پيل کې د دغو هڅو او همکاريو ستاينه کوي او خپلو ټولو همکارانو ته يې مبارکي وايي. فيفا همدارنګه د ولسي جرګې له ټولو درنو استازو څخه چې د تل په شان يې همکاري وکړه او زموږ مرکې ته حاضر شول، مننديونه او هرکلی کوي. په دې برخه کې د ولسي جرګې د دارالانشا پرله پسې همکاری هم د ستاينې وړ دي او فيفا د هغو له همکاريو او په تېره بيا د ولسي جرګې د دارالانشا د مشر او د دارالانشا مرستيال ښاغلي غالب څخه مننديونه کوي. فيفا همدارنګه له سياسي حزبونو، مدني بنسټونو او د هېواد د اکاډميک-علمي فعالانو او نخبه ګانو څخه چې د سروې په اړه يې په ډله ييزو بحثونو کې ګډون وکړ او خپل ليدلوري يې له موږ سره شريک کړل، ستاينه او هرکلی کوي. فيفا يو ځل بيا له خپلو ټولو همکارانو څخه چې د مرکو په کولو، په ډېټابېس کې د معلوماتو ثبتولو، د موندنو شننې او د رپوټ جوړولو په برخه کې يې نه ستړي کېدونکې هڅې کړي، ستاينه او مننديونه کوي.

## سرخبرې

د ملي یووالي د حکومت هوکړه لیک د هېواد په ټاکنیز نظام کې د بنسټیزو اصلاحاتو د راوړلو لپاره تاریخي فرصت او شرایط برابر کړل. وروسته له هغه چې د ۱۳۹۳ کال د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو ټاکنې له کړکېچ سره مخامخ شوې، یوځل بیا د هېواد په ټاکنیز بهیر کې د اصلاحاتو راوستو اړتیا په کلکه احساس شوه. دغه کړکېچ دا وښوده چې په هېواد کې شته ټاکنیز چوکاټ او جوړښت د یوه روڼ او ډموکراتیک بهیر جوګه نه دی او بنسټیزو اصلاحاتو ته اړتیا لري. له کړکېچن بهیر څخه وروسته او ان په عادي بهیرونو کې په ډموکراتیک بنسټونو کې د اصلاحاتو د راوستو اړتیا د نړۍ په ټوله ډموکراسۍ کې یوه معمول او دودشوې چاره شمېرل کېږي. ډموکراتیک بنسټونه د دې لپاره چې له یوې خوا د بدلونونو او له بلې خوا د خلکو غوښتنو پر وړاندې خپله ورتیا سره یوځای کړي، د اصلاحاتو راوستو لپاره ګام پورته کوي. دغه اصلاحات کېدای شي د بنسټ په دننه کې خپله د بنسټ پر مټ راوستل شي او یا هم کوم بل بنسټ ته دا دنده وروسپارل شي.

د افغانستان په ټاکنیز نظام او جوړښت کې د اصلاحاتو اړتیا له بده مرغه چې د بنسټ د بیاکتنې له کچې پورته ده او پراخو او بنسټیزو اصلاحاتو ته اړتیا ده. له همدې کبله د ملي یووالي حکومت په هوکړه لیک کې د دې چارې تر سره کولو په موخه د «ټاکنیزو اصلاحاتو کمیسیون» رامنځته کولو پر سر ټینګار شوی دی. ټاکنې د یوه ډموکراتیک نظام بنسټیزه ستنه ده. د ۱۳۸۸ کال له کړکېچنو ټاکنو څخه وروسته ښه فرصت برابر شو ترڅو د هېواد په ټاکنیز بهیر کې بنسټیز اصلاحات راوستل شي، خو له بده مرغه چې له دغه ملي او مهم بهیر څخه په برسېرنه توګه تېر شول. ټاکنیز قوانین څو میاشتې وړاندې له ډېرو نیمګړتیا او ستونزو سره او د کوم څېړنیز ملاتړ څخه پرته د ملي شورا لخوا تصویب شول او ولسمشر هم توشېح کړل. له بلې خوا کمیسیون وخت ونه موند ترڅو په دغه بنسټ کې شته وړتیا او توان ته له سره کتنه او پلټنه وکړي. په افغانستان کې د ټاکنو ترسره کولو چارې د ټاکنو د تنظیم کډ دفتر تر ۱۳۸۴ کال پورې پر غاړه درلودې او له هغه وروسته د ټاکنو خپلواک کمیسیون د یوه خپلواک بنسټ په توګه خپل فعالیت پیل کړ. که چېرې په ۱۳۸۹ کال کې د ستونزمنو پارلماني ټاکنو څخه وروسته د ټاکنیزو اصلاحاتو بهیر ته په بنسټیزه توګه پاملرنه شوې وای، بې له شکه چې د ۱۳۹۳ کال د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو ټاکنې له ستونزو سره نه مخامخ کېدې. اوس یوځل بیا په هغه ځای کې یو چې د ۱۳۸۸ کال ولسمشریزو ټاکنو او د ۱۳۸۹ کال پارلماني ټاکنو څخه وروسته وو. خو مهم توپیر دا دی چې د ملي یووالي حکومت د اصلاحاتو راوستو په هکله هم د افغانستان خلکو او هم نړۍ ته ژمنه ورکړې او سیاسي هوکړه لیک یې هم د حقوقي چوکاټ ضمانت کوي. له دې کبله په هېواد کې دا د ډموکراسۍ د پلي کولو او د دغه مهم ماموریت پر مخ بېولو لپاره تر ټولو ښه فرصت دی. د ټاکنیزو اصلاحاتو د کمیسیون رامنځته کول د ټاکنیزو اصلاحاتو د بهیر د پیل ټکی دی. خو د ټاکنیزو بې نظمیو او ستونزو پراخوالي ته په کتو سره باید په دغه بهیر کې ټول ښکېل بنسټونه د دې چارې په ترسره کولو کې ونډه واخلي. خو له بده مرغه چې د ملي یووالي حکومت د رهبرانو تر منځ د شته ناندریو له کبله د ټاکنیزو اصلاحاتو کمیسیون فعالیتونه تر اوسه نه دي پیل شوي. دا چاره د دې لامل کېږي چې خلک او مدني ټولنه د دغه حکومت د بنسټیزو ژمنو پلي کولو باندې خپل باور له لاسه ورکړي.

د وخت په دغه پړاو کې خلک د ملي یووالي له حکومت څخه د خلکو په ژوندانه کې د بنسټیز بدلون، د سراسري سولې ټینګښت او د حکومتولۍ په بېلابېلو برخو لکه په ډموکراتیک بهیر کې د حزبونو د رول په پیاوړتیا کې د اصلاحاتو راوستلو غوښتنه کوي. له همدې کبله حکومت باید د اصلاحاتو د کمیسیون د کار پیلېدو او د ټاکنو اړوند بنسټونو سره په همکارۍ د ولسي جرګې او ولسوالیو د شوراګانو راتلونکو ټاکنو او اصلاحاتو په برخه کې یوه روښانه او څرګنده کړنلاره جوړه کړي او د ټاکنو نېټه په ګوته شي. د افغانستان حکومت، ټاکنیز کمیسیونونه، د قانون جوړونې بنسټونه، د قانون د تنفیذ بنسټونه، ملي مشاهد بنسټونه، نړیواله ټولنه او رسنۍ دې په ګډه په دغه بهیر کې د روڼتیا د رامنځته کولو او په هېواد کې د ډموکراسۍ بنسټیزه کولو لپاره هڅه وکړي. په دې کې د راتلونکو پارلماني ټاکنو ته په کتو سره د پارلمان او د خلکو د استازو رول ډېر مهم او اغېزمن ګڼلای شو.



په درناوي

د فیفا اجرایوي مشر

محمدیوسف رشید

## د سرلیکونو نوملړ


مننددوینه ........ ii
سرخبرې ........ iii
د رپوټ لنډیز ........ ۱
سریزه ........ ۳
۱. د ټاکنیزو اصلاحاتو کمیسیون ........ ۴
۱،۱. د ټاکنیزو اصلاحاتو د کمیسیون جوړښت ........ ۴
۱،۲. د ټاکنیزو اصلاحاتو د کمیسیون له کړنو څخه اغېزمنې پایلې ........ ۴
۱،۲،۱. د ټاکنیزو اصلاحاتو لپاره د یوې ملي استراتیژۍ جوړول ........ ۵
۱،۲،۲. د تېرو ټاکنو د نیمګړتیاو په ګوته کول ........ ۵
۱،۲،۳. د ټاکنیزو کمیسیونونو د جوړښت او د ټاکنو د حقوقي چوکاټ ارزونه ........ ۵
۱،۳. د اصلاحاتو له کمیسیون سره اړوند بنسټ همکاري ........ ۶
۲. د راتلونکو ټاکنو لپاره د اصلاحاتو اړتیاوې ........ ۶
۲،۱. د ټاکنو قانون ........ ۶
۲،۱،۱. د ټاکنو سیستم ........ ۷
۲،۱،۲. په پارلمان کې د سیاسي حزبونو شتون ته لار هوارول ........ ۸
۲،۱،۳. د ښځینه نوماندانو شرایط ........ ۹
۲،۱،۴. د ټاکنیزو درغلیو او سرغړونو په کمښت کې اغېزمنې کړنلارې ........ ۱۱
۲،۱،۵. د ټاکنیزو مبارزو د لګښت کچې په ګوته کول ........ ۱۱
۲،۱،۶. ټاکنیزو نوماندانو لپاره د مالي مرستو محدودیت ........ ۱۲
۲،۲. د ټاکنیزو کمیسیونونو د جوړښت، دندو او واکونو قانون ........ ۱۲
۲،۲،۱. جوړښت ........ ۱۳
۲،۲،۲. د غړو د ګمارنې او شمېر څرنګوالی ........ ۱۳
۲،۲،۳. د سیستم له بدلون وروسته په یوازیتوب د تایید رایې اخیستل ........ ۱۳
۲،۲،۴. د غړو د غړیتوب او لیرې کېدو شرایط ........ ۱۴
۲،۲،۵. په قانون کې د کمیسیونونو د غړو د معاش او امتیازاتو په ګوته کول ........ ۱۶
۲،۲،۶. په قانون کې د کمیسیونونو د غړو د مسوولیتونو او واکونو په ګوته کول ........ ۱۶
۲،۲،۷. له ټاکنو وروسته د کلني رپوټ په وړاندې کولو سره د ټاکنیزو بنسټونو د ځواب ویلو میکانیزم ........ ۱۸
۲،۲،۸. د ټاکنیزو شکایتونو پلټنه او رسېدنه ........ ۱۸
۲،۲،۹. د ولایتي دفتر پر ځای د ولایتي کمیسیونونو جوړول ........ ۱۹
۲،۲،۱۰. د دواړو کمیسیونونو تر منځ وروستی پرېکړه ګډ کمیسیون کوي ........ ۲۰
۲،۲،۱۱. د ټاکنیزو شکایتونو په کمیسیون کې د دوه نړیوالو څارونکو غړو شتون ........ ۲۰
۳. د راتلونکو پارلماني ټاکنو ستونزې ........ ۲۱
۳،۱. د نوماندانو لپاره د امنیت نشتوالی ........ ۲۱
۳،۲. پر ټاکنیزو کمیسیونونو نه ډاډمنتیا ........ ۲۱
۳،۳. د ټاکنو په بهیر کې د سیمه ییزو زورواکو لاسوهنه ........ ۲۱
۳،۴. له مشخصو کسانو څخه د کمیسیونونو د چارواکو ملاتړ ........ ۲۲

۳,۵. د مالي توان نه درلودل ........ ۲۲
۳,٦. د حزبي سیستم نشتوالی ........ ۲۲
٤. په راتلونکو ټاکنو کې د نړیوالې ټولنې رول ........ ۲۳
پایله ........ ۲۴
متودولوژي ........ ۲۵
د شته متونونو پلټنه ........ ۲۵
پوښتنپانه ........ ۲۵
د پوښتنپاڼې ازمېښت/ ټسټ ........ ۲۵
بېلګه اخیستنه ........ ۲۵
مرکه ........ ۲۵
ډله ییز بحثونه ........ ۲۵
ضمیمې ........ ۲٦
ضمیمه ۱: کارول شې سرچینې ........ ۲٦
ضمیمه ۲: د مرکې پوښتنې ........ ۲٦
ضمیمه ۳: ډله ییز بحثونه ........ ۲۷
ضمیمه ۴: پوښتنپاڼې ........ ۲۸
ضمیمه ۵: په نظرپوښتنه کې د شامل د ولسي جرګې وکیلانو لېست ........ ٤۰
ضمیمه ۶: د ډله ییز بحثونو د ګډون کوونکو نوملړ ........ ٤٤
د دغه رپوټ په هکله ........ ٤٥

## د شکلونو نوملړ

شکل ۱: مهمې پایلې چې د اصلاحاتو کمیسیون له کړنو څخه لاسته راشي ....... ۵
شکل ۲: د ټاکنیزو اصلاحاتو له کمیسیون سره همکاري ....... ۶
شکل ۳: په راتلونکو ټاکنو کې د نوماند په توګه ګډون کوم ....... ۸
شکل ٤: د ټاکنیز سیستم د بدلون اړتیا ....... ۹
شکل ۵: ښځینه نوماندانو لپاره د نوماندۍ د شرایطو اسانتیا ....... ۱۰
شکل ٦: له ټاکنیزو درغلې کوونکو او سرغړوونکو سره د چلند وړاندیزي کړنلاره ....... ۱۱
شکل ۷: ټاکنیزو پستونو لپاره د ټاکنیزو مبارزو د اندازې له په ګوته کولو پلوي ....... ۱۲
شکل ۸: نوماندانو ته د حقیقي او حکمي کسانو د مالي مرستو محدودول ....... ۱۲
شکل ۹: د ټاکنیزو کمیسیونونو د غړو د ټاکلو شرایط ....... ۱۳
شکل ۱۰: له پارلمان څخه د ټاکنیزو کمیسیونونو د غړو د رایې اخیستنې ډول ....... ۱٤
شکل ۱۱: د ټاکنیزو کمیسیونونو د غړو ګوښه کولو شرایط ....... ۱۵
شکل ۱۲: هغه مرجع چې د کمیسیون د غړو د لیرې کولو واک ولري ....... ۱۵
شکل ۱۳: په قانون کې د ټاکنیزو کمیسیونونو د غړو معاش او امتیازات ....... ۱٦
شکل ۱٤: د ټاکنو خپلواک کمیسیون د غړو د کمښت اړتیا ....... ۱٦
شکل ۱۵: د کمیسیون غړو ته د ځانګړو دندو سپارل ....... ۱۷
شکل ۱٦: په قانون کې د ټاکنو کمیسیون د دارالانشا د مشر واکونه او مسوولیتونه ....... ۱۷
شکل ۱۷: پارلمان ته د کلني استماعیه رپوټ او له ټاکنو وروسته رپوټ وړاندې کول ....... ۱۸
شکل ۱۸: د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون د پریکړ علنیتوب او د تصمیمونو څرګندوالی ....... ۱۸
شکل ۱۹: د ټاکنو د کمیسیون ولایتي دفتر په ولایتي کمیسیون بدلېدل ....... ۱۹
شکل ۲۰: د ټاکنیزو کمیسیونونو د اختلاف په تړاو وروستۍ پرېکړه ....... ۲۰
شکل ۲۱: د کاري روڼتیا لپاره د ټاکنیزو شکایتونو په کمیسیون کې دوه نړیوالو څارونکو غړو شتون ....... ۲۰
شکل ۲۲: د ټاکنیزو نوماندانو پر وړاندې مهمې ستونزې ....... ۲۱
شکل ۲۳: په راتلونکو ټاکنو کې د نړیوالې ټولنې رول ....... ۲۳

## د رپوټ لنډيز

په دغه رپوټ کې د ټاکنيزو اصلاحاتو په هکله د ولسي جرګې له ۱۲۵ وکيلانو سره د پوښتنپاڼي او مرکې له لارې د فيفا د نظرپوښتنې پايله ښودل کېږي. د نظرپوښتنې د موندنو پر لنډيز بانديې له وکيلانو، حزبونو او د مدني ټولنې له بنسټونو سره په ګروپي غونډو کې بحث وشو او د هغو نظرونه او ليدلوري هم په دغه رپوټ کې خپاره شوي دي. د نظرپوښتنې د تر ټولو مهمو موندنو لنډيز په لاندې ډول دی:

- د تېرو ټاکنو په تېره بيا د افغانستان د ۱۳۹۳ کال د ولسمشريزو او ولايتي شوراګانو په ټاکنو کې د کړکېچ رامنځته کېدو له يوې خوا خلک د ټاکنو پر بهير بانديې بې باوره کړل او له بلې خوا د ټاکنو د بهير او ټاکنيزو بنسټونو پر ورانديې د نړيوالې ټولنې د کړنلارې د بدلون لامل شو. له دې کبله د ملي يووالي حکومت د "د ټاکنيز نظام اصلاح" تر شعار لاندې د ټاکنيزو بنسټونو په جوړښت او حقوقي چوکاټ کې د بنسټيزو اصلاحاتو رامنځته کولو لپاره خپل کار پيل کړ. په پايله کې د ټاکنيزو اصلاحاتو کميسيون چې د غړو شمېر يې ۱۵ کسانو ته رسېږي، د ولسمشر په ۶۸ فرمان بانديې په ۱۱/۱۲/۱۳۹۴ نېټه جوړ شو. د دغه کميسيون د کار موده د فرمان د صادرېدو له نېټې څخه نيولې څلور مياشتې دی چې دا موده د اړتيا پر مهال د ولسمشر په فرمان د تمديد وړ ده.
- د ټاکنيزو اصلاحاتو د کميسيون په جوړېدو سره له يوې خوا د ازادو او عادلانه ټاکنو په برخه کې د خلکو او نړيوالې ټولنې باور ترلاسه کېږي او له بلې خوا د ډموکراتيک بهير په پياوړتيا کې د ملي يووالي د حکومت سياسي اراده څرګندېږي. ۶۴ ٪ وکيلانو د ټاکنيزو اصلاحاتو د کميسيون د کړنو مهمه لاسته راوړنه د ټاکنيزو اصلاحاتو لپاره د يوې ملي ستراتيژي جوړول بللي دي. د تېرو ټاکنو د نيمګړتياو په ګوته کول د اصلاحاتو د کميسيون د کړنو له نورو پايلو څخه وه چې د ولسي جرګې ۵۳ ٪ وکيلانو هغه مهم ګڼلی دی. او ۳۹ ٪ وکيلانو د افغانستان د ټاکنيز نظام ارزونه د اصلاحاتو د کميسيون د کړنو له مهمو پايلو څخه شمېرلې ده.
- د ټاکنيزو اصلاحاتو له کميسيون سره د ملي او نړيوالو څارونکو بنسټونو او نورو اړوند دولتي ارګانونو همکاري کولای شي له يوې خوا د اصلاحاتو د بهير پر روښتيا باور رامنځته کړي او له بلې خوا د درغليو او سرغړونو د مخنيوي لپاره د رايې ورکوونکو او نوماندانو ډاډ ترلاسه کړي. پر همدې بنسټ د ولسي جرګې وکيلانو د مدني ټولنې بنسټونه، د ملي يووالي حکومت او پارلمان د ټاکنيزو اصلاحاتو له کميسيون سره د همکارۍ لپاره تر ټولو مهمو بنسټونو څخه ګڼلي دي.
- ۶۹ ٪ وکيلانو په راتلونکو پارلماني ټاکنو کې د نوماندۍ لپاره تيارى ښودلی په داسې حال کې چې ۲۶ ٪ نورو ويلي چې تر اوسه يې هوډ نه دی نيولی. د ولسي جرګې د ۶۹ ٪ وکيلانو څخه چې په راتلونکو ټاکنو کې د نوماندانو په توګه ګډون کوي، يوازې ۷ ٪ به يې د سياسي حزب يا ائتلاف په استازيتوب ځانونه ونوموي. د دې نظرپوښتنې له مخې د ولسي جرګې ۶۰ ٪ غړي د ټاکنيز سيستم له بدلون سره چې د حزبونو د شتون د پياوړتيا لامل شي، هوکړه کړې او ۳۴ ٪ يې د ځوکيو مناسب شمېر چې حزبونو ته بايد ځانګړې شي، له ۱۰۰ څخه تر ۲۰۰ پورې وړانديز کړی دی. د ګروپي بحثونو په غونډو کې چې فيفا جوړې کړې، د ۶۰ ٪ وکيلانو د ځوابونو په هکله غور شوی دی. په هغو ګروپي بحثونو کې چې له مدني ټولنې او حزبونو سره شوي، هغو په ټاکنو کې د حزبونو شتون د يوه اصل په توګه وباله.
- د فيفا د نظرپوښتنې پر بنسټ ۴۲ ٪ وکيلان د ښځينه نوماندانو لپاره د نوماندۍ د شرايطو (د ملاتړيزو کارتونو شمېر، د تضمين پيسې...) اسانتيا غواړي، په داسې حال کې چې ۵۸ ٪ نور يې د دې موضوع مخالف دي. کله چې په ګډو بحثونو کې دا موضوع له وکيلانو څخه وپوښتل شوه، وکيلانو دا موضوع زياتره له دوديز چلند سره نښلېدلې وبلله. په داسې حال کې چې د حزبونو او مدني ټولنې د بنسټونو په ګروپي بحثونو کې ګډون کوونکو د نارينه په پرتله د ښځو اقتصادي او ټولنيزې ستونزې ډېرې وبللې او د ښځو لپاره د ورته اسانتياو څخه يې ملاتړ وکړ.
- وکيلانو په قانون کې د ټاکنيزو جرمونو د تعريف غوښتنه وکړه او د درغلي کوونکو او سرغړوونکي لپاره د نغدي جريمې سربېره د حبس غوښتونکي دي. د ټاکنيزو جرمونو په ګوته کولو او پلټنې لپاره د ټاکنيزې محکمې جوړول يوه بله لار ده چې ۲۸ ٪ وکيلانو يې وړانديز کړی دی. ۸۵ ٪ وکيلان د ټاکنيزو مبارزو د لګښتونو د اندازې په ګوته کولو پلويان دي، خو ټينګار کوي که چېرې ټاکنيزه سرغړونه وشي، بايد له ټاکلې اندازې څخه زيات لګښت سره سم جريمه په پام کې ونيول شي. د وکيلانو د وينا له مخې په اوسنۍ کړنلاره کې پرته له دې چې د زيات لګښت کچې ته وکتل شي، د جريمې ثابته اندازه په پام کې نيول شوې ده. ۷۸ ٪ وکيلان له دغه ګام سره همغږي وو او يوازې ۱۸ ٪ يې د مرستو محدودولو سره مخالفت وکړ.
- زياتره وکيلانو (۵۲,۵٪) د ټاکنيزو کميسيونونو د غړو د ټاکلو لپاره د ټاکنو په برخه کې کافي تجربې درلودل شرط بللی دی. د کميسيونونو د غړو د ټاکنې په هکله ځينو وکيلانو په يوازېتوب د تاييد رايې وړانديز وکړ په داسې حال کې چې په ګروپي بحثونو کې ځينو يې ان د باور رايې ته اشاره وکړه.

۶۴ ٪ وکیلان د ټاکنیزو کمیسیونونو د خپلواکۍ ساتلو په پام کې نیولو سره وایي چې د کمیسیونونو غړي باید په یوازېتوب له پارلمان څخه د تایید رایه واخلي. د نظر پوښتنې له مخې ۶۹ ٪ ځواب ویونکو له دندې او موقف څخه ناوړه ګټه اخیستل له دندې د لیرې کولو یو له مهمو شرایطو څخه وباله.

- ۹۵ ٪ وکیلان په قانون کې د کمیسیونونو د غړو د معاش او امتیازاتو د اندازې له یادولو سره همغږي وښوده. په دې نظرپوښتنه کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د غړو د شمېر په هکله وپوښتل شول، ۲۵ ٪ یې د غړو د شمېر له کمښت سره همغږي وښوده. ۷۰ ٪ وکیلانو ویلي دي چې د کمیسیون په دننه کې کمېشنرانو ته د مشخصې دندې سپارل، د هغو د کاري اغېزمنتیا او مسوولیت منلو لامل کېږي. ۹۸ ٪ وکیلان په قانون کې د دارالانشا د مشر د واکونو او مسوولیتونو په ګوته کول اړین بولي.
- د خلکو د استازو په باور د ټاکنیزو کمیسیونونو پر مټ پارلمان ته د کلني استماعیه رپوټ او له هرو ټاکنو څخه وروسته د رپوټ وړاندې کول به خلکو ته د دغو کمیسیونونو د غړو د ځواب ویلو میکانیزم پیاوړی کړي. له بلې خوا د خلکو له استازو سره په شوې مرکه کې دوی پر دې باور دي چې ټاکنیز کمیسیونونه باید په ځانګړي وخت کې خپل ټول رپوټونه د خپلې انټرنټي پاڼې او رسنیو له لارې له ځنډ پرته خپاره کړي.
- ۸۱ ٪ وکیلان د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون د تصمیمونو څرګندوالی او د پرېکړو علنیتوب د دواړو خواو د رضایت ترلاسه کولو او د روڼتیا په رامنځته کولو کې اغېزمن بولي. د پارلمان د غړو نږدې نسبي اکثریت ٪۴۸ په ولایتي کمیسیونونو باندې د کمیسیون ولایتي دفتر له بدلېدو سره همغږي دي. د دواړو کمیسیونونو تر منځ د وروستۍ پرېکړې لپاره د دواړو کمیسیونونو له غړو څخه د یوه ګډ کمیسیون د جوړولو په هکله د پارلمان د شاوخوا ۵۴ ٪ استازو ځوابونه مثبت وو.
- ۶۴ ٪ وکیلان باوري دي چې د ټاکنیزو شکایتونو په کمیسیون کې د رایې له حق پرته له ملکرو ملتونو څخه د دوه نړیوالو څارونکو غړو شتون د کمیسیون په کاري روڼتیا کې ډېره مرسته کوي.
- ډېری ځواب ویونکو ټینګار درلود ترڅو چې برېښنایي پېژندپاڼې ونه وېشل شي د رنو او عادلانه ټاکنو تر سره کول به ناشونې وي. د امنیت نشتوالی، د کمیسیون د کارکوونکو نه بې پرېتوب او د بهیر ناسمه اداره د راتلونکو ټاکنو تر مخ له تر ټولو مهمو ننګونو څخه شمېرل کېږي. وکیلان د افغانستان په ټاکنو کې د نړیوالې ټولنې له ټولو غوره رول د مالي بودجې ورکول، د تخنیکي وسایلو برابرول او د وړتیا لوړول بولي.

## سريزه

د افغانستان د ولسمشرۍ دريمې ټاکنې چې د اساسي قانون پر بنسټ په ۱۳۹۳ کال کې وشوې، د افغانستان خلکو (ښځو او نرانو) په ډېره لېوالتيا د امنيتي ګواښونو له شتون سره سره د ټاکنو په بهير کې ګډون وکړ. يوشمېر رايې ورکوونکي د وسله والو طالبانو لخوا په نښه او ګوتې يې پرې کړې. تمه کېده چې د ټاکنو کميسيون ټاکنيزې پايلې د خلکو د رايې او غوښتنې سره سم (د اساسي قانون د ۴مې مادې پر بنسټ) ژر تر ژره اعلان کړي. دا چې د ټاکنو په لومړي پړاو کې د ولسمشرۍ هېڅ يو نوماند ونه توانېد چې ٪۵۰ جمع يو رايې ترلاسه کړي، ټاکنې د دوه مخکښو نوماندانو تر منځ دويم پړاو ته ولاړې. له بده مرغه چې د ټاکنو دويم پړاو د پراخو ټاکنيزو درغليو، د ټاکنيزو شکايتونو په پلټنه کې نه روڼتيا او د دولتي چارواکو د لاسوهنې له کبله څرګنده او روښانه پايله نه درلوده. د نظام مشروعيت تر پوښتنې لاندې راغی او هېواد د سياسي ناورين ګواښ لاندې راغی. د ټاکنيزو کميسيونونو (د ټاکنو خپلواک کميسيون او د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون) کړنې له يوې خوا د نوماندانو او د سياسي ملاتړو د منلو وړ ونه ګرځېدې او له بلې خوا د ټاکنو په بهير کې د خلکو او د ملي او نړيوالو څارونکو بنسټونو د بې باورۍ لامل شوې.

د ښکېلو اړخونو او ټاکنيزو ډلو تر منځ د سياسي او پوځي نښتو او شخړو څخه د مخنيوي لپاره نړيوالې ټولنې د امريکا په مرسته منځګړيتوب وکړ او په پايله کې وتوانېدل چې دواړه اړخونه (دوه مخکښ نوماندان) د يوه هوکړه ليک پر بنسټ چې دواړه اړخونو لاسليک کړ او امريکا تصديق کړ، د ملي يووالي حکومت رامنځته کړي.[1]

دغه هوکړه ليک چې د ملي يووالي حکومت د جوړولو په هکله د ۱۳۹۳ کال د وږي په ۳۰مه د دواړو ټاکنيزو ډلو د مشرانو (ډاکټر اشرف غني او ډاکټر عبدالله عبدالله) تر منځ لاسليک شو، اووه مادې لري چې پنځمه ماده يې د ټاکنيزو اصلاحاتو په هکله ده. په دغه هوکړه ليک کې يادونه شوې چې د هېواد ټاکنيز نظام چې قوانين او بنسټونه پکې راځي، بنسټيز بدلونونو ته اړتيا لري. د ملي يووالي حکومت له جوړېدو وروسته ولسمشر د سياسي هوکړه ليک پنځمې مادې په پام کې نيولو سره په يوه فرمان د ټاکنيز نظام د اصلاح په موخه يو ځانګړی کميسيون رامنځته کړ.

بې له شکه چې راتلونکې پارلماني ټاکنې کلکو اصلاحاتو ته اړتيا لري ترڅو له يوې خوا د ټاکنو تنظيموونکو بنسټونو له لاسه وتلی مشروعيت بېرته لاسته راشي او له بلې خوا خلک د ټاکنو پر ډموکراتيک بهير باوري شي. راتلونکې پارلماني ټاکنې بايد له اساسي قانون سره سم د ۱۳۹۴ کال د غويي او غبرګولي مياشتو په منځ کې وشي، خو د ټاکنو کميسيون د تياري اعلان سربېره د افغانستان د ټاکنو په حقوقي چوکاټ او جوړښت کې د بنسټيز سمون يا اصلاح څخه پرته هرې ټاکنې ناورين رامنځته کولای شي. حکومت بايد لومړی د ټاکنيزو اصلاحاتو د کميسيون غړي په ګوته کړي او وروسته د اصلاحاتو کميسيون د بنسټيزو اصلاحاتو راوړلو په برخه کې خپل فعاليتونه پيل کړي. دا نظرپوښتنه چې د ټاکنيزو اصلاحاتو په هکله د پارلمان له وکيلانو سره شوې، د ټاکنيزو اصلاحاتو لپاره پراخې برخې په ګوته کوي. د راتلونکو ټاکنو د روڼتيا لپاره به د لنډمهالو اصلاحاتو پلي کول ډېر اغېزمن وي.

[1] د افغانستان د ملي يووالي دولت د جوړولو هوکړه ليک د ډاکټر محمد اشرف غني او ډاکټر عبدالله عبدالله تر منځ د ۱۳۹۳ کال د وږي په ۳۰مه د افغانستان د ولسمشرۍ په ارګ کې لاسليک شو.

## ۱. د ټاکنیزو اصلاحاتو کمیسیون

په ۱۳۹۳ کال کې له ټاکنو او د ټاکنو پر بهیر باندې د افغانستان د خلکو او نړیوالې ټولنې له بې باورۍ څخه وروسته د افغانستان ټاکنیز نظام د باور بیا راژوندي کولو لپاره د ټاکنیزو بنسټونو په جوړښت او حقوقي چوکاټ کې بنسټیزو او ژورو اصلاحاتو ته اړتیا ده.

د ملي یووالي حکومت رامنځته کولو د هوکړه لیک یوه مهمه ماده د هبواد په ټاکنیز نظام کې د اصلاحاتو رامنځته کول دي. د دغه هوکړه لیک پر بنسټ " د افغانستان ټاکنیز نظام (قوانین او بنسټونه) بنسټیزو بدلونونو ته اړتیا لري. ولسمشر د سیاسي هوکړه لیک پنځمې مادې په پام کې نیولو سره د ملي یووالي حکومت له جوړېدو سمدلاسه وروسته په یوه فرمان سره د افغانستان د ټاکنیز نظام د اصلاح په موخه ځانګړی کمیسیون رامنځته کوي."[۲]

د ځانګړي کمیسیون غړي د ولسمشر او اجرايي مشر په هوکړې په ګوته کېږي. ځانګړی کمیسیون د خپلو کارونو د پرمختګ په هکله اجراییه مشر ته رپوټ ورکوي، کابینه د دغه کمیسیون وړاندیزونه پلټي او د پلي کولو لپاره یې اړین ګامونه پورته کوي. د یادونې وړ ده چې ټاکنیز اصلاحات باید په ۱۳۹۴ کال کې له پارلماني ټاکنو څخه مخکې رامنځته شي.

په همدې موخه ولسمشر د یوه فرمان له مخې د ۱۳۹۴ کال د وري په لومړۍ د ټاکنیزو اصلاحاتو کمیسیون جوړ شو.

### ۱،۱. د ټاکنیزو اصلاحاتو د کمیسیون جوړښت

د ټاکنیزو اصلاحاتو کمیسیون د ملي یووالي حکومت له جوړېدو شپږ میاشتې وروسته د ۱۱/۱۲/۱۳۹۳ د ولسمشر د فرمان په صادرېدو جوړ شو. د دغه کمیسیون د کار موده د هغه د دندو د لایحې له شپږمې مادې سره سم د فرمان له صادرېدو څخه نیولې څلور میاشتې ده چې دا موده د اړتیا له مخې د ولسمشر په حکم د تمدید وړ ده. یاد کمیسیون خپل فعالیتونه د دغه فرمان د ضمیمه شویو دندو له لایحې سره سم چې لس مادې لري، تنظیموي. دغه کمیسیون د دندو د لایحې د دریمې مادې له مخې خپلې اصلاحي طرحې او وړاندیزونه په لاندې درې برخو کې تنظیموي:

۱. لنډمهال کې؛ د ولسي جرګې او د ولسوالیو د شوراګانو راتلونکو ټاکنو لپاره؛

۲. منځمهال کې؛ د ولسمشریزو راتلونکو ټاکنو لپاره؛

۳. اوږدمهال کې؛ د راتلونکو نورو ټاکنو لپاره؛

د ولسمشر له فرمان سره سم د دغه کمیسیون د غړو شمېر پنځلس تنو ته رسېږي چې له هغو څخه څلور تنه یې د بدلون او دوام له ډلې څخه، څلور تنه یې د اصلاحاتو او همپالنې ډلې څخه، څلور تنه یې د مدني ټولې غړي او دوه تنه یې د حکومت استازي او یو تن د ملګرو ملتونو استازی د دغه کمیسیون غړي جوړوي.

د کمیسیون په جوړښت کې د تجربه لرونکو او مسلکي کسانو شتون ته اړتیا ده چې د ټاکنو په چارو کې او ټاکنیزو شکایتونو ته د رسېدنې په برخه کې پوهه او کاري تجربه ولري. د کمیسیون د غړو شمېر د ولسمشر له فرمان سره سم په ګوته شوی، که چېرې د ټاکنیزو اصلاحاتو د کمیسیون په ګوته شویو غړو تېرې کړنې وارزول شي، د یوشمېر ځانګړو غړو پرته نور یې په ټاکنیزو چارو کې مسلکي تجربه او کاري کیفیت او شرایط نه لري. له بلې خوا یو شمېر غړي یې د سیاسي تړاو او اړیکو پر بنسټ ګمارل شوي چې د ټاکنیزو مبارزو پر مهال یې فعالیتونه کړي، چې دا د ټاکنیزو اصلاحاتو په کمیسیون کې لازمه کاري خپلواکي تر پوښتنې لاندې راولي.

### ۱،۲. د ټاکنیزو اصلاحاتو د کمیسیون له کړنو څخه اغېزمنې پایلې

د ټاکنیزو اصلاحاتو د کمیسیون رامنځته کول یو نېک او پر ځای ګام دی ترڅو له یوې خوا د ازادو او عادلانه ټاکنو په برخه کې د خلکو او نړیوالې ټولنې باور بیا راژوندی کړي او له بلې خوا د خلکو د رایې او غوښتنې پر بنسټ د ډموکراتیک بهیرونو په پیاوړتیا کې د ملي یووالي د حکومت سیاسي اراده څرګنده کړي. بې له شکه چې د قانون د واکمنتیا او د معافیت کلتور له پای ته رسېدو پرته د ټاکنو د بهیر اصلاح کول شونې نه برېښي. تمه ده چې دولت د ټاکنیزو اصلاحاتو له کمیسیون څخه د سیاسي او تخنیکي ملاتړ په برخه کې پوره هڅه وکړي ترڅو په هبواد کې د قانوني او سوله ییزو لارو د قدرت سپارلو سیاسي کلتور بنسټیز شي.

[۲] د ملي یووالي حکومت د رامنځته کېدو هوکړه لیک د متن پنځمه ماده (په ټاکنیز نظام کې اصلاحات) وکتل شي.

د فیفا د نظر پوښتنې پر بنسټ چې د پارلمان له وکیلانو څخه شوې، د ټاکنیزو اصلاحاتو د کمیسیون له کړنو څخه د درې مهمو پایلو په هکله پوښتل شوي دي. د وکیلانو په وینا د ټاکنیزو اصلاحاتو لپاره د ملي استراتیژۍ جوړول، د تېرو ټاکنو نیمګړتیاو په ګوته کول او د افغانستان د ټاکنیز چوکاټ، د ټاکنیزو قوانینو او د ټاکنو تنظیموونکو بنسټونو ارزول د اصلاحاتو کمیسیون د کړنو له مهمو لاسته راوړنو څخه دي.



*شکل ۱: مهمې پایلې چې د اصلاحاتو کمیسیون له کړنو څخه لاسته راشي*

په لاندې برخو کې د کمیسیون د کړنو پایلې اغېزمنې او عملي کېدای شي:

### ۱،۲،۱. د ټاکنیزو اصلاحاتو لپاره د یوې ملي استراتیژۍ جوړول

دا استراتیژي په هېواد کې د ټولیزو، ازادو او عادلانه ټاکنو په لاره اچولو لپاره هراړخیز او محتوايي اقداماتو لرونکې ده. د دې استراتیژۍ جوړول به د ملي سلا او مشورې او له تېرو ټاکنو څخه د لاسته راغلو درسونو او په دې برخه کې له متخصصو او تجربه لرونکو کسانو سره سلا کولو پر بنسټ شونې وي. د مدني ټولنو او پوهاوي څرنګوالی او د لومړنیو، منځنیو او لوړو زده کړو په درسي نصاب کې یې ځای پر ځای کول، د دې استراتیژۍ له بنسټیزو او مهمو برخو څخه ګڼلای شو. د فیفا د سروې پر بنسټ ٪۶۴ وکیلان د ټاکنیزو اصلاحاتو لپاره د ملي استراتیژۍ جوړول د ټاکنیزو اصلاحاتو د کمیسیون د کړنو یوه مهمه لاسته راوړنه بللې ده.

### ۱،۲،۲. د تېرو ټاکنو د نیمګړتیاو په ګوته کول

تر اوسه په افغانستان کې د ولسمشرۍ د ټاکنو درې پړاوونه، د ولسي جرګې (پارلماني) ټاکنو دوه پړاوونه او د ولایتي شوراګانو د ټاکنو درې پړاوونه تر سره شوي دي. دا ټاکنې بې له شکه چې مثبت او روزونکې ټکي او همدارنګه بېلابېلې تجربې او درسونه له ځان سره درلودل، چې د هېواد راتلونکو ټاکنو لپاره ګټورې او اغېزمنې لارښوونې ولري. د نیمګړتیاو په ګوته کول کولای شي د ټاکنیز سیستم قانوني تشې او ستونزې، د رایې ورکونې د محلاتو په ګوته کول، د سیمه ییزو زورواکو او دولتي چارواکو لاسوهنې او په ټوله کې د ټاکنیز بهیر د مدیریت او ټاکنیزو شکایتونو ته د رسېدنې څرنګوالی رابرسېره کړي ترڅو پر بنسټ یې د اړینو اصلاحاتو وړاندیز وشي او پلې شي. د پارلمان ٪۵۳ وکیلانو د تېرو ټاکنو د نیمګړتیاو په ګوته کول مهم بللې دي.

### ۱،۲،۳. د ټاکنیزو کمیسیونونو د جوړښت او د ټاکنو د حقوقي چوکاټ ارزونه

له ناورین سره د مبارزې لپاره د مدیریت د مسلکي او کاري وړتیا نشتوالی، د کمیسیونونو د خپلواکي نشتوالی او له ټاکنیزو موضوعاتو سره سیاسي چلند د ټاکنیزو بنسټونو د کار په ډول کې له مهمو نیمګړتیاو څخه وو. ټولې کاري لایحې، کړنلارې او د پلي کېدو څرنګوالی یې د اصلاحاتو د کمیسیون مسوولینو پر مټ وپلټل شي او هغه کسانو چې ناغېرې کړې، تر قانوني پوښتنو ګروېږنو لاندې ونیول شي. د پارلمان ٪۳۹ وکیلان د افغانستان د ټاکنیز نظام ارزونه د اصلاحاتو د کمیسیون د کړنو له مهمو پایلو څخه بللې ده.

### ۱،۳. د اصلاحاتو له کميسيون سره د اړوند بنسټ همکاري

دا چې د ټاکنيزو اصلاحاتو بهير يو ټوليز او پراخ بهير دی، اړينه ده ترڅو د ملي او نړيوالو څارونکو بنسټونو په ګډون ټاکنيزو چارو کې ښکيل بنسټونه او اړوند دولتي ارګانونه د ټاکنيزو اصلاحاتو له کميسيون سره هراړخيزه همکاري وکړي. دا همکاری له يوې خوا د اصلاحاتو د بهير روڼتيا ساتي او له بلې خوا د درغليو او سرغړونو د مخنيوي په برخه کې د نوماندانو او رايي ورکوونکو ډاډمنتيا ته هم لار هواروي. د پارلمان وکيلانو د مدني ټولنې بنسټونه، د ملي يووالي حکومت او د هېواد پارلمان له تر ټولو مهمو بنسټونو څخه بللي چې د ټاکنيزو اصلاحاتو له کميسيون سره همکاري ولري.




*شکل ۲: د ټاکنيزو اصلاحاتو له کميسيون سره همکاري*

## ۲. د راتلونکو ټاکنو لپاره د اصلاحاتو اړتياوې

د ازادو او عادلانه ټاکنو تر سره کول يوه غښتلي دولت او د ټاکنو پر ټول بهير کره څارنې ته اړتيا لري. د فعالو سياسي حزبونو شتون هم په ټاکنو کې اغېزمن رول لري. سربېره پر دې د يوه وړ ټاکنيز سيستم شتون هم کولای شي ټولې تشې او نيمګړتياوې راکمې کړي، ټول له يو بل سره لاس ورکوي ترڅو رڼې او عادلانه ټاکنې ولرو. په هر هېواد کې په ټاکنيز سيستم کې د اصلاحاتو راوړل يوه مهمه چاره شمېرل کېږي او اړينه وي. د اصلاحاتو کچه د هر هېواد د ټاکنو په اړوند مسايلو کې اړتيا پورې اړه لري. د افغانستان د ۱۳۹۳ کال د ټاکنو کړکېچنې تجربې څخه وروسته او دا چې د سمو ټاکنو په لاره اچولو لپاره د ټاکنيزو بنسټونو ناتوانې په ډاګه شوه، د ملي يووالي حکومت جوړ او د ټاکنيزو اصلاحاتو ژمنه وشوه. دغه اصلاحات د ټاکنيزو اصلاحاتو د کميسيون په نامه د يوه جلا کميسيون له لارې په کوټه او پلې کېږي. لکه څنګه چې روښانه ده د ۱۳۹۳ کال د ولسمشريزو او ولايتي شوراګانو ټاکنې له درغليو ډکې وې. د هېواد په ټاکنيز نظام کې د اصلاحاتو راوستل د ملي يووالي حکومت له تر ټولو مهمو شعارونو څخه وو، د همدې لپاره د افغانستان په ټاکنيز نظام کې بايد بنسټيز بدلونونه رامنځته شي او که چېرې ټاکنيز اصلاحات رامنځته نشي نو خلک به د ټاکنو پر بهير بې باوره شي.

### ۲،۱. د ټاکنو قانون

د ټاکنو په قانون کې د ټاکنو د بهير ټوليز چوکاټ تعريف شوی او بېلابېلې ټاکنې چې په هېواد کې کېږي، پکې راغلې. مخکني ولسمشر حامد کرزي د ټاکنو قانون چې ۱۱ څپرکي او ۵۸ مادې درلودې، د وزيرانو عالي شورا پر مټ چې په ۶/۲/۱۳۸۴ نېټې تصويب شوی و، په ۷/۲/۱۳۸۴ نېټې د فرمان له مخې توشيح کړ. د هېواد د ټاکنو قانون اړتيا درلوده چې يو لړ اصلاحات پکې رامنځته شي. د ټاکنو د قانون نوې طرحه د ۱۳۹۲ کال کې د پارلمان دواړو جرګو پر مټ تصويب شو او د توشيح لپاره مخکني ولسمشر (حامد کرزي) ته واستول شو. په پايله کې ولسمشر د ټاکنو نوی قانون توشيح کړ او وروسته له هغه چې د قانون جوړونې ټول پړاوونه يې تېر کړل، د لومړي ځل لپاره د ټاکنيز قانون خاوندان شوو. د ټاکنو په نوي قانون کې له کړکېچنو او اختلافي برخو څخه د ټاکنو د حوزه يي کېدو، د ټاکنيزو

شکايتونو د کميسيون لغوه کېدل او پر ځای يې شکايتونو د رسېدنې لپاره د ځانګړې محکمې ځای پر ځای کول او د ټاکنو ځنډولو پر سر بحث وو.[٣] د ټاکنو نوی (اوسنی) قانون د شپاړسو ځېرکو او اتيا مادو لرونکی دی چې د دغه قانون د تصويب په وروستيو پړاوونو کې په درې برخو کې په ولسي جرګه کې د کوچيانو استازو لپاره لس ځوکۍ، د هندوانو او سېکانو يو استازی او د ولايتي شوراګانو او ولسواليو شوراګانو کې د ښځينه استازو شمېر په هکله اختلاف و. په پای کې د ټاکنو نوی قانون په اختلافي برخو کې له دغو بدلونونو سره تصويب شو؛ د هندوانو اختلافي ځوکۍ ليرې کړای شوه، کوچيانو ته ځانګړې شوې ځوکۍ له همغه ټاکنيزې حوزې سره هغو ته ورکړې او په ولايتي شوراګانو ښځو ته ځانګړې شوې ځوکۍ له ۲۵ سلنې څخه ۲۰ سلنې ته راکمې شوې.

### ۲،۱،۱. د ټاکنو سيستم

په عمومي توګه تر اوسه په دې هکله چې د نړۍ هېوادونه څه ډول ټاکنيز نظام/ سيستم د ځان لپاره وټاکي، هېڅ ځانګړې نظريه نشته، خو د يوه ټاکنيز نظام/ سيستم په ټاکلو کې بېلابېل معيارونه رول لري. د يوه هېواد سياسي، اقتصادي، کلتوري، پراختيايي عوامل، د واکمنۍ، د ډموکراسۍ او پراختيا کچه د يوه ټاکنيز نظام په جوړښت کې رول لري.[٤] " ټاکنيز سيستم په دې مانا دی چې پر بنسټ يې رايې ورکوونکي زياتره په ټاکنو کې يا د پاليسي په اړه عمومي رايو ته په مراجعې سره له څو برخو څخه يوه ټاکي."[٥] يا، "د ټاکنو سيستم داسې يو سيستم دی چې په سياسي دستور باندې د رايو بدلولو لپاره کارول کېږي ترڅو رايه ورکوونکي د خپلو استازو له ځواب ويلو څخه ډاډمن شي."[٦] د نړۍ په هېوادونو کې له بېلابېلو ټاکنيز سيستمونو څخه کټه اخيستل کېږي. ټاکنيز سيستمونه په درې اصلي برخو (ډلو) وېشل کېږي:

۱) **اکثريتي سيستم**[٧]:

اکثريتي سيستم له تجربې پرته په لاندې برخو جامع تعريف کېدای نشي. بايد له دواړو برخو يې يادونه وشي ترڅو له اکثريتي سيستم څخه لا ښه مفهوم واخيستل شي. اکثريتي سيستم په دوه ډوله دی:

I. **نسبي اکثريت سيستم**[٨]:

دغه سيستم پر قاعدې (هر څوک ډېرې رايې ترلاسه کړي، ګټونکی دی) ولاړ دی. دغه سيستم يو پړاو لري، داسې چې هر نوماند چې تر ټولو ډېرې رايې ترلاسه کړي، ټاکنې ګټي. له دې کبله چې نسبي اکثريت سيستم يو پړاو لري، لږ لګښت لري، اسانه او ساده دی او په سيستم کې يو نوماند کولای شي په کمو رايو په ټاکنو کې ګټونکی شي.

II. **مطلق اکثريت سيستم**[٩]:

په دغه سيستم کې د نسبي اکثريت سيستم په خلاف په ټاکنو کې د ګټلو معيار د ټولو رايو ۵۰٪ جمع يو رايې ترلاسه کول دي. په دغه سيستم کې يوه لار دا چې کله هېڅ يو نوماند ونه توانېږي ۵۰٪ جمع رايې ترلاسه کړي، دويم پړاو ټاکنې وشي. په دې ډول دوه مخکښ نوماندان چې ډېرې رايې ترلاسه کړي، دويم پړاو ته ځي.

۲) **تناسبي سيستم**[١٠]: په دغه سيستم کې سياسي حزبونه کولای شي د اچول شويو رايو له اندازې سره نږدې برابرې ځوکۍ په خپل واک کې ونيسي او د اکثريتي سيستم په خلاف حزبونه او کوچنۍ ډلې د خپلو رايو په اندازه په قدرت کې ونډه واخلي.

۳) **تلفيقي سيستم (ګډ)**[١١]: دغه نظام له اکثريتي او تناسبي دوه نظامونو څخه جوړ دی، چې د دغه نظام موخه له يوې خوا د عدالت د اصل ساتل او د سياسي حزبونو او ډلو د حق مراعاتول او له بلې خوا د تلپاتې دولتونو د جوړښت لپاره د پارلماني اکثريت د جوړېدو شونتيا ده. المان له هغو هېوادونو څخه دی چې د دغه ډول ټاکنيز نظام په کارولو کې مخکښ دی او د نورو هېوادونو لپاره يوه بېلګه ده.

---

٣ http://www.dailyafghanistan.com/remark_detail.php?post_id=١٢٧٣١٠

٤ اسفنديار ي، حميد رضا- ټاکنيز نظامونه. ١٣٩٢

٥ http://www.iec.org.af/fa/٢٠١٢-٠٦-٢٢-١٦-١٦-٢٠/electoral-system

٦ Election Obligations and Standards. A charter center assessment manual. The Charter Center. (٢٠١٤); ٥٤

٧ Majority/Plurality

٨ Proportional majority

٩ Absolute majority

١٠ Proportional

١١ Mixed

٤) **نور:** درې نور ټاکنيز سيستمونه شته چې په هېڅ يوه پورتنيو برخو کې نه راځي. دغه سيستمونه نه لېږدېدونکي يوې رايې سيستم، د محدودې رايې سيستم او بُردا محاسبې سيستم.

د ولسي جرګې د ټاکنو لپاره د افغانستان اوسنی ټاکنيز نظام د "نه لېږدېدونکي يوه رايه" ټاکنيز سيستم SNTV دی. په دې ډول هر څوک يوازې په خپلې يوې رايې کولای شي په همغه ولايت کې خپل د خوښې نوماند په مستقيمه توګه وټاکي.

### ۲،۱،۲. په پارلمان کې د سياسي حزبونو شتون ته لار هوارول

د ښې حکومتولی له مهمو ځانګړنو څخه په پارلمان کې د سياسي حزبونو او بېلابېلو سياسي ايتلافونو شتون دی. د نظام مشروعيت او اغېزمنتيا ته ورته برخې د سياسي حزبونو له لارې ترلاسه کېږي. نو سياسي حزبونه د ډموکراتيک نظام له بنسټيزو لوبغاړو څخه شمېرل کېږي. سياسي حزبونه په ټاکنو کې په ګډون سره کولای شي د نظام مشروعيت زيات کړي او د هېواد له ګډوډ حالت څخه مخنيوی وکړي. لکه څنګه چې په مخکنۍ برخه کې يادونه وشوه، تناسبي سيستم کېدای شي يوه لار وي ترڅو سياسي حزبونه وتوانېږي په غښتلې او فعاله توګه په حکومت کې ونډه واخلي، پرته له هغه سياسي حزبونه ګوښه کې پاتې کېږي او د نظام اداره کولو توان به له لاسه ورکړي. د پارلمان زياتره مرکه شوي وکيلان د ټاکنيز سيستم بدلون سره داسې چې په پارلمان کې د سياسي حزبونو شتون پياوړی شي، همغږي دي. د ولسي جرګې له وکيلانو څخه وپوښتل شول چې **"په راتلونکو پارلماني ټاکنو کې به د نوماند په توګه شتون ولرئ؟"** ٪۶۹ وکيلانو په راتلونکو ټاکنو کې د نوماندۍ لپاره تيارى وښود، په داسې حال کې چې ٪۲۶ نور وکيلانو ويلي چې تراوسه يې هوډ نه دی نيولی. هغو وکيلانو چې تر اوسه يې هوډ نه دی نيولی، ويلي چې د دوی هوډ د موکلينو د سلا پورې تړاو لري. په ټوله کې د ولسي جرګې له ٪۶۹ وکيلانو څخه چې په راتلونکو پارلماني ټاکنو کې د نوماندانو په توګه ګډون کوي، يوازې ٪۷ به يې د سياسي حزب يا ائتلاف په استازيتوب نوماندان شي.







*شکل ۳: په راتلونکو ټاکنو کې د نوماند په توګه ګډون کوم*

له دې نظرپوښتنې سره سم د ولسي جرګې ٪۶۰ استازي د ټاکنيز سيستم له بدلون سره داسې چې د حزبونو د شتون پياوړتيا لامل شي، همغږي دي او ٪۳۴ نور يې د څوکی شمېر چې د سياسي حزبونو لپاره بايد ځانګړې شي، له ۱۰۰ څخه تر ۲۰۰ تر منځ بولي. د ټاکنيز سيستم د بدلون په هکله چې د پارلمان له وکيلانو سره مرکه وشوه له هغو وپوښتل شول چې **" د ټاکنيز سيستم له بدلون سره داسې چې د حزبونو ګډون ته لازياته هواره کړي، همغږي ياست؟ مهرباني وکړئ خپل دلايل موږ ته ووايئ."** سره له دې چې زياترو يې د سيستم له بدلون سره همغږي ښودلې، خو خپله اندېښنه هم څرګنده کړې ده، چې يوه مهمه اندېښنه د ملي حزبونو نشتوالی دی. د دايکندې يوه استازي وويل چې *"زما په باور په هېواد کې ډېری شمېر حزبونه تر اوسه ملي او پراخ بنسټه شوي نه دي."* هغه شمېر وکيلانو چې له دغه بدلون څخه يې ملاتړ کړی، وايي چې د حزبونو پياوړي کول خپله د ډموکراسی د پياوړتيا يوه چاره شمېرل کېږي. *" په پارلمان کې د حزبونو شتون په تصميم نيونه کې د ګډوډۍ د مخنيوي او په سالم رقابت د ډموکراتيک ارزښتونو د ساتلو لامل کېږي."* جعفر مهدوي.

همدارنګه وکيلان حزبي سيستم د رايو د ضايع کېدو د مخنيوي لپاره يوه لار بولي. *"حزبي سيستم د رايو د ضايع کېدو د مخنيوي لامل کېږي."* سيد نادرشاه بحر.







*شکل ٤: د ټاکنیز سیستم د بدلون اړتیا*

په فوکس ګروپي غونډو کې چې فیفا جوړې کړې وې، د ٪۶۰ کیلانو د ځواب په هکله غور وشو. په فوکس ګروپونو کې چې د مدني ټولنې له استازو سره جوړ شول، هغو په ټاکنو کې د سیاسي حزبونو شتون د یوه اصل په توګه وګڼه. د ښځو، سولې او امنیت لپاره د څېړنې د انستیتوت استازی ښاغلی رضا حسیني وایي: *"هغه انځور چې په اوسني شرایطو کې یې خلک له حزبونو څخه لري، ښه انځور نه دی او حزب معمولاً په قومي کتنو باندې وېشل کېږي. خو د فرد محور سیاست له منځه وړلو لپاره باید حزبي ټاکنیز سیستم په پام کې ونیول شي."* په دې هکله چې کوچني حزبونه په حزبي سیستم کې څه ډول خپل فعالیتونه تنظیم کړي، د فیفا استازي محمد نعیم اصغري داسې وویل: *"د حزبونو رول په رښتیا چې مهم دی او په پارلمان کې حزبي فعالیتونه د دې لامل کېږي چې پارلمان ځواب ویونکی شي. په سهېلي افریقا کې ۱۳۰ سیاسي حزبونه شته. لوی حزبونه د ولسمشرۍ او پارلمان په کچه مبارزه کوي او کوچني حزبونه د ولایتي او ولسوالیو د شوراګانو په کچه مبارزه کوي."*

د سیاسي حزبونو ګډون کوونکو د حزبونو پر وړاندې تر ډېره د حکومت کړنې له ستونزو سره مخامخ وبللې او اوسنی سیستم یې د حزبونو د ودې لپاره خنډ وګڼه.

د افغانستان د جمهوري غوښتونکو حزب استازې عادله بهرام وویل چې: *"حزبونو په مخکنیو ټاکنو کې ونډه نه درلوده چې دغه بهیر د حزبونو د ودې مخنیوی وکړ. د حزبونو د ودې لپاره یوازنۍ لار دا ده چې ټاکنیز سیستم په قانون کې بدلون ومومي او حزبونو لپاره ځانګړې څوکۍ په پام کې ونیول شي."* د یاد حزب استازې همدارنګه د حزبونو لپاره د څوکیو د په ګوته کولو پر څرنګوالي هم خبرې وکړې او ویې ویل: *"د حزبونو لپاره باید په هره ټاکنیزه حوزه کې څوکۍ په پام کې ونیول شي. ښه دا چې کوچیانو د ټاکنیزې حوزې په څېر د حزبونو لپاره هم په ټول هېواد کې یوه ټاکنیزه حوزه په پام کې ونیول شي."* سره له دې چې د یوې ټاکنیزې حوزې په توګه د ټول هېواد په پام کې نیول د کوچنیو حزبونو د ودې مخه نیسي، خو د ټاکنیزې حوزې په ګوته کولو څرنګوالې د حزبونو لپاره خورا اړین بحث شمېرل کېږي.

د زرغون بهیر د حزب استازي نصیر احمد فرهمند په دې هکله وویل: *"د حزبونو لیدلوری ډېر خیرغوښتونکی او اصلاح غوښتونکی دی چې مخکني حکومت ورته پام ونه کړ او له بده مرغه چې نن هم دغه نه پاملرنه دوام لري. تل د حزبونو نه ملي توب په پلمه په یو ډول هغوته نه پاملرنه توجیه کوي."* هغه د خپلو خبرو په دوام کې وویل: *"زما په اند د SNTV اوسنی سیستم په تېرو ټاکنو کې کړکېچ رامنځته کړ او باید دغه سیستم داسې بدل شي چې د حزبونو د ګډون لپاره لار هواره کړي."*

د افغان ملت د حزب استازی استانه ګل شېرزاد وايي: *"مخکني حکومت په تېره بیا خپله ولسمشر د حزبونو د پرمختګ مخنیوی وکړ. اوس مهال د حزبونو لپاره هېڅ ډول امتیاز نشته. ښه دا چې په پارلمان کې ٪۵۰ څوکۍ د حزبونو لپاره په پام کې ونیول شي. د ټاکنو د قانون له تصویب څخه مخکې ولسمشر کرزي یو ځل د حزبونو په غونډه کې د ٪۵۰ له طرحې سره هوکړه وکړه، خو کله چې موضوع کابینې ته ولاړه ولسمشر ورسره مخالفت وکړ."*

### ۲،۱،۳. د ښځینه نوماندانو شرایط

د ټولنې د نیمایي وګړو په توګه د ښځو شتون کولای شي د سیاست په برخه کې مهم رول ولري. د افغانستان د اساسي قانون د ۸۳یمې مادې سره سم د هر ولایت په کچه لږ تر لږه دوه ښځینه وکیلانې په ولسي جرګه کې غړیتوب ولري. د پارلمان په دویمو ټاکنو کې چې په ۱۳۸۹ کې وشوې، شاوخوا ۴۰۵ ښځینه نوماندانې وې چې ۵۹ تنو یې ولسي جرګې ته لار ومونده. د ۱۳۹۳ کال په ټاکنو کې د یوې ښځې په ګډون شپږویشت کسانو ولسمشریزو ټاکنو لپاره او ۳۰۵۷ تنو د ۳۲۳ ښځو

په کډون د ولايتي شوراګانو ټاکنو لپاره نومونه ليکلي وو. د ټاکنو کميسيون د ولايتي شوراګانو د نوماندانو د اسنادو له پلټنې وروسته د ۳۰۸ ښځو په ګډون د ۲۷۰۴ تنه نومونه يې په لومړني لېست کې وليکل. د ۱۳۹۳ کال د ولسمشريزو نوماندانو په منځ کې درې ښځينه مرستيالانې وې.







*شکل ۵: ښځينه نوماندانو لپاره د نوماندۍ د شرايطو اسانتيا*

د پورتني چوکاټ له مخې ۴۲٪ وکیلان د ښځینه نوماندانو لپاره د نوماندۍ د شرایطو (د ملاتړیزو کارتونو شمېر، د تضمین پیسې ...) اسانتیا غوښتونکي دي، په داسې حال کې چې ۵۸٪ نور له دې موضوع سره مخالف دي. د نه ملاتړ موضوع زیاتره نارینه وکیلانو ته ورګرځي چې په دې ډول ۸۳٪ مخالف وکیلان نارینه دي. کله چې د فوکس ګروپ په غونډو کې دا موضوع له وکیلانو څخه وپوښتل شوه، وکیلان دا موضوع زیاتره دوديز چلند پورې اړوند بولي. په داسې حال کې چې د حزبونو او مدني ټولنې د بنسټونو په فوکس ګروپونو کې ګډون کوونکو د نارینه په پرتله د ښځو ټولنیز شرایط او اقتصادي ستونزې ډېرې وبللې.

د ولسي جرګې وکیلې ربابه پروانۍ په دې هکله ووېل: *"ښځې کافي مالي اسانتیاوې په لاس کې نه لري او په زیاترو برخو کې خپله د پانګې خاوندانې نه دي او که چېرې وي هم نو د ډېر لګښت واک یې نه لري."* دا وکیله په دوام کې وايي: *"په ټولنه کې د ښځو ځېل په دې هکله د منفي نظر لامل کېږي."*

د جمهوري غوښتونکو د حزب استازې چې خپله هم يوه ښځينه ګډون کوونکې وه، وايي: *"افغان ښځه يو ترلې اقتصاد لري که څه هم په سياست کې او يا سوداګرۍ کې. له دې کبله د ښځو لپاره د تضمين پيسو په برخه کې بايد اسانه شرايط په پام کې ونيول شي. خو د ملاتړ د کارتونو راټولولو په برخه کې هغه ښځې چې ولسي نفوذ لري، هېڅ ستونزه نشته."* هغې په دوام کې ووېل: *"کله چې د ښځو لپاره اسانتيا په پام کې ونيول کېږي د دې ښکارندويي کوي چې دوی ضعيفه دي چې ښايي له دې پلوه ۱۷٪ مخالفين ښځينه وکيلانې دي."*

د زرغون بهیر استازی نصیر احمد فرهمند د نارینه د پورته والي غوښتنه بنسټیزه ستونزه بولي او وايي: *"د افغانستان په ټولنه، حکومت او مدني ټولنه کې د ښځو لپاره د ونډې ټاکلو د ښځو لپاره یوازې رواني امنیت رامنځته کړ."* هغه د هر ډول لوړوالي غوښتنې پر وړاندې دريدل د دې ستونزې په هواري کې اغېزمن بولي.

د ملي محاذ استازی عبدالولي فايز د بحث په دوام کې ووېل: *"د ټاکنو په لومړي پړاو کې په هلمند ولايت کې د نارينه په پرتله د ښځينه رايې ورکوونکو شمېر ډېر وو، خو همغه خلک دي ته تيار نه دي چې ښځه، خور او يا لور يې نوماند شي."*

مدني فعال او د پوهنتون استاد رضا حسيني د ښځو، سولې او امنيت لپاره د څېړنې انستيتوت په استازيتوب برابر ټولنيز شرايط بنسټيز معيار بولي. هغه وايي: *"هغه وکيلان چې له مثبت تبعيض سره مخالف دي، په ښه شرايطو کې ښه دی، خو زموږ د ټولنې په اوسنيو شرايطو کې نه. شايسه سالارۍ هغه وخت شونې دی چې ټول حقوق او شرايط بايد مساوي وي."*

په یوه لنډه کتنه کې او د ټولنیزو شرایطو په پام کې نیولو سره ښځو ته د اسانیتاو برابرولو لپاره باید د هغو نوماندۍ شرایط اسانه شي، ځکه چې د نوماندۍ د شرایطو اسانول د یوه نوماند پر ګټلو یا بایللو هېڅ اغېزه نه کوي. فيفا د ۱۳۹۳ د ټاکنو د وروستي رپوټ د وړاندیزونو په برخه کې زیاته کړې چې نوماندۍ د شرایطو سربېره باید د کمپاین پر مهال هم د کورنیو چارو وزارت د ښځو لپاره امنیتي ساتونکي په پام کې ونیسي او هغو ته روزنه ورکړي ترڅو د لیرې پرتو سیمو ته د سفر پر مهال د نوماندانو په ټېره بیا د ښځینه نوماندانو امنیت وساتي.

### ۲،۱،٤. د ټاکنیزو درغلیو او سرغړونو په کمښت کې اغېزمنې کړنلارې

ټاکنیزې درغلۍ د ټاکنو په بهیر کې لاسوهنه ده. درغلي یو قصدي عمل دی ترڅو د ټاکنو وروستۍ پایله د یوه کس یا حزب په ګټه بدلون ومومي. اوس د ټاکنیزو اصلاحاتو د کمیسیون په جوړولو سره باید د ټاکنو د روڼتیا ساتلو په موخه کړنې او د هواري لارې چوړې کړي ترڅو په هېواد کې راتلونکو ټاکنو کې د پراخو درغلیو مخنیوی وشي. وکیلان په قانون کې د ټاکنیزو جرمونو د تعریف غوښتونکي دي او سربېره پر دې د سرغړوونکو او درغلي کوونکو لپاره د حبس او نغدي جریمو غوښتونکي دي. د ټاکنیزو جرمونو د په ګوته کولو او پلټنې په موخه د ټاکنیزې محکمې جوړول بله لار ده چې ٪۲۸ وکیلانو یې وړاندیز وکړ.




*شکل ٦: له ټاکنیزو درغلي کوونکو او سرغړوونکو سره د چلند وړاندیزي کړنلاره*

#### *۲،۱،٤،۱. د نغدي جریمو سربېره د حبس په ګوته کول:*

د افغانستان د ټاکنو د قانون ۶۹مې مادې سره سم یوازېنۍ سزا چې درغلي کوونکو ته په پام کې نیول شوې، نغدي جریمه ده. په داسې حال کې چې زیاتره زورواکو او درغلي کوونکو د ټاکنیزو جرمونو څخه ډېډه نه ده کړې او لاهم پر درغلیو او سرغړونو ټینګار کوي. د ورته ټاکنیزو درغلیو د مخنیوي لپاره که د نوماند لخوا وي او که د ټاکنیزو کارکوونکو لخوا وي او یا هم دریم کس لخوا، باید د نغدي جریمې تر څنګ حبس هم په پام کې ونیول شي.

#### *۲،۱،٤،۲. د سزا په قانون کې د ټاکنیزې درغلۍ او سرغړونې تعریف او د جرمونو په ګوته کول*

د ټاکنو په قانون کې د درغلۍ او سرغړونې کلمه په څرګنده توګه نه ده تویېر شوې، یوازې ځینو ټکو ته اشاره شوې چې د قانون له مخې درغلي او سرغړونه شمېرل کېږي. سرغړونو ته د رسېدنې په برخه کې هم باید د جرمونو په تعینولو کې اصلاح رامنځته شي.

#### *۲،۱،٤،۳. د ټاکنیزو جرمونو د پلټنې لپاره د ځانګړې ټاکنیزې محکمې جوړول*

په هغو برخو کې چې ټاکنیزه درغلي او سرغړونه کېږي، په اوږدمهال کې یوازې د ولسمشریزو ټاکنو لپاره د بهیر د ګړندي کولو د ټاکنیزو جرمونو او د کار اسانتیا لپاره یوې ځانګړې محکمې ته به راجع شي. د هېواد د سزا په قانون کې باید لومړی ټاکنیز جرمونه تعریف شي او وروسته بیا یې سزا په ګوته شي. خو په لنډمهال کې د ټاکنو په قانون کې په ګوته شوې جریمې باید د ټاکنیزې درغلۍ او سرغړونې له کچې سره منطقي انډول ولري او تعریف شي.[۱۲]

### ۲،۱،۵. د ټاکنیزو مبارزو د لګښت کچې په ګوته کول

د ټاکنیزو مبارزو د لګښت کچه د ټاکنو قانون په ۴۹مه ماده کې په ګوته شوې ده. له قانون سره سم د پارلماني ټاکنیزو مبارزو لپاره مالي لګښت تر یو میلیون افغانۍ دی چې که چېرې له دې زیات لګښت وشي سرغړونه ګڼل کېږي او له قانون سره سم چلند ورسره کېږي. سره له دې چې ٪۸۵ وکیلان د ټاکنیزو مبارزو لپاره د لګښت کچې له په ګوته کولو سره همغږي دي، خو ټینګار کوي چې که چېرې ټاکنیزه سرغړونه وشي نو باید له ټاکلي لګښت څخه د زیاتو پیسو له کچې

[۱۲] د ۱۳۹۳ ټاکنې، ځانګړی رپوټ، د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو موسسه (فیفا)؛ ۱۳۹۴

سره سم جریمه په پام کې ونیول شي. د وکیلانو د وینا له مخې په اوسنی کړنلاره کې پرته له دې چې د زیات لګښت کچې ته وکتل شي، د جریمې ثابته اندازه په پام کې نیول شوې ده.




*شکل ۷: ټاکنیزو پسټونو لپاره د ټاکنیزو مبارزو د اندازې له په ګوته کولو پلوي*

### ۲،۱،٦. ټاکنیزو نوماندانو لپاره د مالي مرستو محدودیت

یو بل ټکی چې د پارلمان له استازو سره شریک کړای شو، د ټاکنیزو نوماندانو لپاره د مالي مرستو محدودول وو. زیاتره استازي ۷۸٪ له دغه ګام سره همغږي وو او یوازې ۱۸٪ استازو د مرستو له محدودول سره مخالفت وکړ. د نوماندانو لپاره په مالي مرستو کې محدودیت به د دې لامل شي چې ټول نوماندان وتوانېږي په خپلو ټاکنیزو مبارزو کې له برابر فرصتونو څخه ګټه واخلي او هر څوک به وتوانېږي د حقیقي او حکمي اشخاصو څخه د ترلاسه کېدونکو مرستو په همغه ځانګړي لګښت څخه کمپاین وکړي.




*شکل ۸: نوماندانو ته د حقیقي او حکمي کسانو د مالي مرستو محدودول*

## ۲،۲. د ټاکنیزو کمیسیونونو د جوړښت، دندو او واکونو قانون

د ټاکنو له قانون څخه وروسته چې دویم قانون د ټاکنو په برخه کې بنسټیز رول لوبوي، د ټاکنیزو کمیسیونونو د جوړښت، دندو او واکونو قانون دی. دغه قانون د ټاکنیزو کمیسیونونو د جوړښت، دندو او واکونو او فعالیت څرنګوالي اړوند چارو د تنظیم لپاره جوړ شوی دی. د دغه قانون له کره لوستلو سره چې د دواړو کمیسیونونو د دندو په هکله دی، په ځینو برخو کې نیمګړتیاوې هم لرې چې اصلاحاتو ته اړتیا لري. په همغه نظر پوښتنه کې چې فیفا د ولسي جرګې له یوشمېر وکیلانو سره کړې، همغو په ځینو برخو کې د بدلونونو غوښتنه کړې ده چې په لاندې ډول دي:

### ۲،۲،۱. جوړښت

د ټاکنو کميسيون له مرکزي، دارالانشا او ولايتي دفترونو څخه جوړ دی. د اوسنيو کميسيونونو جوړښت داسې دی چې د ټاکنو کميسيون ۹ غړي لري او د شکايتونو کميسيون ۵ غړي لري. هر کميسيون په سر کې يو مشر لري چې يو مرستيال، يو منشي، د کميسيون د دارالانشا مشر او د کميسيونونو نور غړي فعاليت کوي. نور غړي هر يو د کړنلارو او لايحو د تصويب، د کميسيون او دارالانشا له غونډو څارنې او د ټاکنو له ټولو پړاوونو څخه د څارنې په برخه کې فعاليت کوي. د شکايتونو کميسيون په هر ولايت کې د ولايتي کميسيون لپاره درې غړي لري. د ټاکنو کميسيون په مرکز کې ۹ رياستونه لري او د هر ولايت لپاره يو ولايتي دفتر لري چې په سر کې يې ولايتي مشر دی.

### ۲،۲،۲. د غړو د ګمارنې او شمېر څرنګوالی

د ټاکنيزو کميسيونونو د جوړښت، دندو او واکونو له قانون سره سم د ګمارنې کمېټه د دواړو کميسيونونو د شرايطو وړ کسان پلټي او وروسته بيا د په ګوته کولو لپاره يې ولسمشر ته وړانديز کوي. لومړی د ګمارنې کمېټه له هغو ۲۷ کسانو څخه چې د شکايتونو کميسيون د غړيتوب لپاره يې څانونه نومولي، د هغو اسناد او سوانح پلټي او ولسمشرۍ ته يې سپاري. ولسمشر ۹ کسه چې لږ تر لږه دوه يې ښځې وي، د شپږ کلونو لپاره د کميسيون د غړو په توګه ټاکي. همدارنګه د شکايتونو کميسونين لپاره هم د ګمارنې کمېټه ۱۵ کسه چې تر ټولو لوړ معيار ولري، ولسمشرۍ ته وړېږني ترڅو ولسمشر ۵ کسه د يوې ښځې په ګډون د شکايتونو کميسيون لپاره وټاکي.

د فيفا د سروې پر بنسټ په ولسي جرګه کې زياتره وکيلانو (۵۲،۵٪) د ټاکنيزو کميسيونونو د غړو د ټاکلو لپاره د ټاکنو په برخه کې کافي تجربې درلودل شرط بللی دی.




*شکل ۹: د ټاکنيزو کميسيونونو د غړو د ټاکلو شرايط*

### ۲،۲،۳. د سيستم له بدلون وروسته په يوازيتوب د تاييد رايې اخيستل

د کميسيونونو د جوړښت، دندو او واکونو د قانون له ۸مې مادې سره سم د کميسيونونو غړي د ګمارنې د کمېټې له تاييد څخه وروسته ولسمشر ته وړېږندل کېږي او د هغو ګمارنه د ولسمشر پر غاړه ده. له دې کبله که چېرې د ټاکنو سيستم بدل شي، د فيفا د سروې پر بنسټ د دواړو کميسيونونو د غړو ټاکل به هم بدل شي. که چېرې د غړو ګمارنه د ټاکنو پر بنسټ وي، د هېواد پارلمان هغه کسان د رايې اخيستنې د بهير له لارې په جلا جلا توګه ټاکلي. وکيلانو دغه ټاکنه په يوازيتوب د تاييد رايې په ډول په پام کې نيولې ده. ۶۴٪ وکيلان د ټاکنيزو کميسيونونو د خپلواکۍ ساتلو په پام کې نيولو سره وايي چې د کميسيونونو غړي بايد په يوازيتوب له پارلمان څخه د تاييد رايه واخلي.




*شکل ۱۰: له پارلمان څخه د تاکنیزو کمیسیونونو د غړو د رايي اخیستنې ډول*

د وکیلانو د فوکس ګروپ په غونډو کې ځینو وکیلانو ان د باور رايي ته اشاره وکړه. د پارلمان استازې شیرین محسني وایي: *"د تاکنیزو کمیسیونونو غړي باید د وزیرانو په څېر له پارلمان څخه د باور رایه واخلي ترڅو د قوانینو د ماتولو او سرغړونو په صورت کې پارلمان واک ولري هغوی استیضاح کړي او واک ترې واخلي."*

د ښځو، سولې او امنیت لپاره د څېړنیز انستیتوت استازی رضا حسیني وایي:" *د تاکنو په بهیر کې تر ټولو لویه پوښتنه همدا ده چې یو کمېشنر څنګه کولای شي خپله خپلواکي وساتي. تجربې موږ ته ښودلې چې هر کله د تاکنیزو کمیسیونونو مشران پارلمان ته ورغوښتل شوي، هغوی نه دي حاضر شوي او ویلي یې دي چې دوی پارلمان ته ځواب ویونکي نه دي."* د فیفا استازي محمد نعیم اصغري په دوام کې ووېل:" *د پارلمان یوشمېر غړي د باور د رايي غوښتونکي دي، خو د باور رایه دغه بهیر ته ستونزې جوړوي. لکه څه چې د تاکنو پر مهال د کوم دلیل له کبله د کمیسیون غړو څخه واک واخلي، بهیر له ستونزو سره مخامخ کېږي او له بندون سره مخامخ کېږي."*

خو په هر حالت کې د ځواب ویلو د رامنځته کولو یوه لار له پارلمان څخه د تاکنیزو کمیسیونونو د غړو رایه اخیستل دي. فیفا د ۱۳۹۳ کال د تاکنو په خپل وروستي رپوټ کې له پارلمان څخه د رايي اخیستلو څرنګوالی وړاندیز کړی و. په دغه وړاندیز کې وروسته له هغه چې د ګمارنې کمېټې پر مټ غړي په ګوته شول او ولسمشر غړي وټاکل، ټاکل شوي غړي د تایید رايي اخیستو لپاره په ټولیزه توګه پارلمان ته وړاندیز کېږي.

### ۲،۲،٤. د غړو د غړیتوب او لیرې کېدو شرایط

د کمیسیونونو د جوړښت، دندو او واکونو د قانون ۷مې او ۲۱مې مادې پر بنسټ د دواړو کمیسیونونو د غړو د غړیتوب لپاره شپږ شرطه اېښودل شوي دي.

۱. یوازې د افغانستان تابعیت درلودل
۲. د لوړو زده کړو درلودل
۳. د دېرش کلنۍ عمر پوره کول
٤. د لیسانس لپاره پنځه کاله تجربه او تر هغه لوړ درجې کاله تجربه او د وړتیا او نېک نوم درلودل.
٥. د جنایت یا بشري ضد جرمونو باندې نه محکومیت
٦. د دندې پر مهال په سیاسي حزبونو کې نه غړیتوب

د کمیسیونونو د جوړښت، دندو او واکونو د قانون ۱۰مه او ۲۸مه ماده کې په کمیسیونونو کې د غړیتوب د لاسه ورکولو لپاره شپږ ټکي/حالته کښل شوي دي.

- جنایتونو باندې محکومېدل
- د اړوند محکمې په حکم له مدني حقوقونو څخه بې برخې کېدل
- د دندې پر مهال په سیاسي حزبونو کې د غړیتوب ثابتېدل
- له کوم موجه دلیل څخه پرته له ۲۰ ورځو زیات پرلپسې ناسوبتیا
- په نه روغېدونکې ناروغۍ اخته کېدل چې د دندې پرمخ بېولو مخنیوی وکړي

- د هېواد د کټو، اساسي قانون، د تاکنو قانون او نورو نافذه قوانينو د حکمونو په پام کې نه نيول
- قومي، ژبنی، سيمه ييز، حزبي او مذهبي تعصب يا تبعيض ته لمن وهل

له دندې ناوړه ګټه اخيستل، مالي او اداري فساد ته لمن وهل، د سياسي پلوي او بې طرفۍ اصل تر پښو لاندې کول، په دنده کې ناغېرې، د کميسيون له درې غونډو څخه زياتو کې پرلپسې توګه ناسوبتيا، د خلکو رايې ته زيان رسول او اخلاقي فساد ته لمن وهل له هغو برخو څخه وو چې د پارلمان وکيلانو د تاکنيزو کميسيونونو د غړو د ليرې کولو لپاره وړاندې شول. د نظر پوښتنې له مخې ٪۶۹ ځواب ويونکو له دندې او موقف څخه ناوړه ګټه اخيستل له دندې د ليرې کول يو له مهمو شرايطو څخه وباله.




*شکل ۱۱: د تاکنيزو کميسيونونو د غړو ګوښه کولو شرايط*

د قانون له مخې د تاکنيزو کميسيونونو غړي د ولسمشر لخوا ټاکل کېږي، خو د غړو د ليرې کولو يا ګوښه کولو په هکله چې کومه مرجع يې بايد ليرې کړي، اشاره نه ده شوې. ٪۵۰ ګډون کوونکو د کميسيون د غړو ګوښه کولو لپاره ولسمشرۍ په ګوته کړې، په داسې حال کې چې ٪۲۹ ګډون کوونکو د دغه کار لپاره پارلمان په ګوته کوي.




*شکل ۱۲: هغه مرجع چې د کميسيون د غړو د ليرې کولو واک ولري*

### ۲،۲،۵. په قانون کې د کمیسیونونو د غړو د معاش او امتیازاتو په ګوته کول

د ټاکنو په قانون کې او د جوړښت په قانون کې هیڅ کومه ماده د کمیسیونونو د غړو د معاش او امتیازاتو په هکله نه ده راغلې. که چېرې کومه ماده په قانون کې ورزیاته شي، د کمیسیونونو د غړو په شتمنیو کې روڼتیا زیاتېږي او امتیازات یې په ګوته کېږي. د سروې له مخې چې په ولسي جرګه کې د خلکو له استازو سره شوې، ٪۹۵ یې په قانون کې د کمیسیونونو د غړو د معاش او امتیازاتو د اندازې له یادولو سره همغږي وو.




*شکل ۱۳: په قانون کې د ټاکنیزو کمیسیونونو د غړو معاش او امتیازات*

### ۲،۲،٦. په قانون کې د کمیسیونونو د غړو د مسوولیتونو او واکونو په ګوته کول

په نظر پوښتنه کې په ولسي جرګه کې د خلکو له استازو څخه د ټاکنو خپلواک کمیسیون د غړو د شمېر په هکله وپوښتل شول، چې د غړو په شمېر کې کمښت راوستل څومره د هغو د کاري اغېزمنتیا او مسوولیت منلو د رامنځته کېدو لامل کېږي؟ لاندنی چارټ د پارلمان د وکیلانو له لیدلوري د ټاکنو خپلواک کمیسیون د غړو د کمښت اړتیا ښیي.




*شکل ۱۴: د ټاکنو خپلواک کمیسیون د غړو د کمښت اړتیا*

په ټوله کې د ټاکنیزو کمیسیونونو د جوړښت، دندو او واکونو په قانون کې د ټاکنو کمیسیون د دندو او واکونو ۱۷ برخې[۱۳] او د شکایتونو کمیسیون لپاره ۱۲ برخې[۱۴] راغلي دي. د جوړښت د قانون د ۱۵مې مادې له مخې د ټاکنو کمیسیون د مشر د واکونو په برخه کې د ۶ برخو یادونه شوې ده. همدارنګه په قانون کې د دواړو کمیسیونونو د دارالانشا د مشر په برخه کې د هغو دندو او واکونو یادونه نه ده شوې (خو ویل شوي چې د هغو دندې د کمیسیون په کړنلاره کې راغلي دي).




*شکل ۱۵: د کمیسیون غړو ته د ځانګړو دندو سپارل*

د ۷۰٪ وکیلانو په اند د کمیسیون په دننه کې کمېشنرانو ته د مشخصې دندې سپارل، د هغو د کاري اغېزمنتیا او مسوولیت منلو لامل کېږي. د قانون له مخې کمېشنران د ټاکنو کمیسیون د دارالانشا له کړنو څخه د څارنې دنده لري، خو د ټاکنیزو کمیسیونونو کمېشنران د دغه کمیسیونونو د دارالانشا له کړنو څخه د څارنې لپاره په مشخصه توګه نه ګمارل کېږي. ښه لار دا ده چې په ټاکنیزو کمیسیونونو کې د څارنې لپاره ساحه په ګوته او د کمیسیون غړي د دغو برخو د څارنې لپاره مسوول شي. د دې لارې په کارولو له یوې خوا د کمېشنرانو مسوولیت منل زیاتېږي او له بلې خوا د کمیسیونونو څارنیزه دنده په ښه توګه پلې کېدای شي.




*شکل ۱۶: په قانون کې د ټاکنو کمیسیون د دارالانشا د مشر واکونه او مسوولیتونه*

[۱۳] د جوړښت د قانون څوارلسمه ماده
[۱۴] د جوړښت د قانون شپږ ایشتمه ماده

۹۸٪ وکیلان په قانون کې د کمیسیون د دارالانشا د مشر د واکونو او مسوولیتونو په کوته کولو پلویان دي. لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه، په قانون کې د کمیسیونونو د دارالانشا د مشر واکونو او مسوولیتونو یادونه نه ده شوې، بلکې د کمیسیون لخوا په جلا کړنلاره کې په ګوته شوي دي.

### ۲،۲،۷. له ټاکنو وروسته د کلنی ریوټ په وړاندې کولو سره د ټاکنیزو بنسټونو د ځواب ویلو میکانیزم

د ټاکنو او شکایتونو کمیسیونونه چې دواړه په جلا او خپلواکه، خو د یو بل په همغږۍ کې فعالیت کوي، باید د خلکو، نوماندانو او حکومت پر وړاندې ځواب ویونکي وي. د هواري یوه لار چې د کمیسیونونو د ځواب ویلو کچه روښانه او ځرګندوي، له هرو ټاکنو څخه وروسته د کلني ریوټ او هم د ټولیز ریوټ جوړول او وړاندې کول دي. په دې ډول کېدای شي چې د دواړو کمیسیونونو کړنې په کره توګه ویلټل شي او د ضعف او قوت ټکي يې په ګوته او د کړنو سمون لپاره يې ګام پورته شي.




*شکل ۱۷: پارلمان ته د کلني استماعیه ریوټ او له ټاکنو وروسته ریوټ وړاندې کول*

د خلکو د استازو په باور د ټاکنیزو کمیسیونونو پر مټ پارلمان ته د کلني استماعیه ریوټ او له هرو ټاکنو څخه وروسته ریوټ وړاندې کول به خلکو ته د دغو کمیسیونونو د غړو د ځواب ویلو میکانیزم پیاوړی کړي. له بلې خوا د خلکو له استازو سره به شوې مرکه کې دوی پر دې باور دي چې ټاکنیز کمیسیونونه باید په ځانګړي وخت کې خپل ټول ریوټونه د خپلې انټرنټي پاڼې او رسنیو له لارې له ځنډ پرته خپاره کړي.

### ۲،۲،۸. د ټاکنیزو شکایتونو پلټنه او رسېدنه

د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون د ټاکنو د چارو اړوند سرغړونو او درغلیو زېږنده شکایتونو او اعتراضونو ته د رسېدنې په موخه یوه قانوني مرجع ده. ۸۱٪ وکیلان د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون د تصمیمونو ځرګندوالی او د پرېکړو علني والی د دواړو خواو د رضایت ترلاسه کولو او د روڼتیا رامنځته کولو کې اغېزمن بولي.




*شکل ۱۸: د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون د پرېکړو علنیتوب او د تصمیمونو ځرګندوالی*

تاکنیز کمیسیونونه له بنسټ څخه خپلواک دي یانې د سیستم او د کاري قاعدې له مخې چا ته ځواب ویونکي او ربوټ ورکوونکي نه دي، خو دا چې د کمیسیونونو په کار کې روڼتیا رامنځته شي، له یوې خوا لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه باید پارلمان ته ربوټ ورکړي او له بلې خوا باید د تاکنو اړوند قوانینو په تېره بیا د تاکنو قانون کې داسې تدابیر او میکانیزم په پام کې ونیول شي چې له مخې یې د تاکنو کمیسیون ټول مهم تصمیمونه علني وي. د پارلمان وکیلې ورمه صافي په فوکس ګروپ کې یادونه وکړه:" *د تاکنیزو شکایتونو کمیسیون د غړو خپلواکي او بې پرېتوب تر ټولو مهمه مشخصه ده چې باید د مقررېدو پر مهال یې په پام کې ونیول شي، ترڅو چې د تاکنیزو شکایتونو غړیتوب ته بې پرې کسان ونه ګمارل شي، د دغه کمیسیون کړنې نشي کولای د دوارو غاړو د رضایت لامل شي."* د فیفا استازی محمد نعیم اصغري وایي:" *د تاکنیزو کمیسیونونو د جوړښت، دندو او واکونو د ۲۴ مې مادې له مخې شکایتونو ته رسېدنه باید علني وي، خو د شکایتونو د کمیسیون غړي وایي چې په قانون کې نه دي راغلي چې پرېکړې باید علني وي."* دغه ناخرګند ټکي باید په قانون کې باید تصحیح شي. د دې نظر پوښتنې له مخې د شکایتونو کمیسیون د تصمیمونو د بنسټ ځرګندوالی او علني پرېکړې د روڼتیا او د دواړو خواو د رضایت لامل کېدای شي.

### ۲،۲،۹. د ولایتي دفتر پر ځای د ولایتي کمیسیونونو جوړول

د تاکنو کمیسیون له اوسني قانون سره سم د اړوند چارو د پرمخ بېولو لپاره د کمیسیون ولایتي دفترونه رامنځته کړي دي، خو د شکایتونو کمیسیون په ټولو ولایتونو کې ولایتي کمیسیونونه لري چې په قانون کې یې یادونه شوې ده. د پارلمان د غړو نږدې نسبي اکثریت ۴۸ ٪ په ولایتي کمیسیونونو باندې د کمیسیون ولایتي دفتر له بدلېدو سره همغږي دي. دا چاره به لامل شي ترڅو د شکایتونو کمیسیون په څېر په هر ولایت کې درې غړي وګمارل شي. د تاکنو مرکزي کمیسیون به هم وتوانېږي ترڅو د خپلو فعالیتونو او چارو په پرمخ بېولو کې چټک تصمیم ونیسي او د تاکنو اړوند شکایتونو او ستونزو ته هم ژر تر ژره رسېدنه وشي.




*شکل ۱۹: د تاکنو د کمیسیون ولایتي دفتر په ولایتي کمیسیون بدلېدل*

د ولسي جرګې غړې عزیزه جلیس په ولایتي کمیسیون باندې د تاکنو کمیسیون د ولایتي دفتر بدلېدو په هکله وایي:" *د تاکنو کمیسیون تصمیمونه د ولایتونو په کچه باید انفرادي نه وي. ارتیا ده ترڅو ولایتي کمیسیون رامنځته شي او صلاحیتونه ووېشل شي ترڅو د کمیسیون غړي وتوانېږي په ټولیزه توګه د موضوعاتو په هکله سم او هراړخیز تصمیمونه ونیسي."*

په ولایتي کمیسیونونو باندې د تاکنو کمیسیون د ولایتي دفتر له بدلېدو سره د تاکنو کمیسیون څارنیزه دنده په لا کره توګه ترسره کېدای شي. څکه د قانون له مخې د تاکنو کمیسیون باید د دارالانشا له کړنو څخه څارنه وکړي، خو د ولایتي کمیسیون له لرلو پرته په ولایتونو کې د کمیسیون پر کړنو څارنه ډېره ستونزه وي.

### ۲,۲,۱۰. د دواړو کمیسیونونو تر منځ وروستی پرېکړه ګډ کمیسیون کوي

اوس مهال د دواړو کمیسیونونو تر منځ د ستونزو او کړکېچونو د هوارۍ لپاره کومه مرجع یا مقام نشته. په همدې ډول د پارلمان د شاوخوا ۵۴٪ استازو ځوابونه د دواړو کمیسیونونو تر منځ د وروستی پرېکړې لپاره د دواړو کمیسیونونو له غړو څخه د یوه ګډ کمیسیون د جوړولو په هکله مثبت وو. دغه کمیسیون کولای شي د دواړو کمیسیونونو ډېرې ستونزې هوارې کړي.




*شکل ۲۰: د ټاکنیزو کمیسیونونو د اختلاف په تړاو وروستی پرېکړه*

### ۲,۲,۱۱. د ټاکنیزو شکایتونو په کمیسیون کې د دوه نړیوالو څارونکو غړو شتون

دا چاره به ډېره د خوښۍ وړ وي چې د ټاکنیزو بنسټونو لکه د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ملي کارکوونکو مسلکي ورتیا هومره لوړه شي چې ټول د کارکوونکو د مسلکیتوب او په ټاکنیز بهیر کې له ازادي او عدالت څخه ډاډمن شي. د تېرو ټاکنو تجربو وښودله چې لاهم د ټاکنیزو پېښو ته په رسېدنه کې سلیقه یي چلند او سیاسي لاسوهنې شتون لري. پر دې بنسټ د ملګرو ملتونو لخوا د دوه نړیوالو څارونکو شتون له یوې خوا ټاکنیزو شکایتونو ته په رسېدنه کې مرسته کوي او له بلې خوا په بنسټونو کې د افغان کارکوونکو مسلکي کېدو او ورتیا لوړتیا کې مرسته کوي. ۶۴٪ وکیلان باوري دي چې د ټاکنیزو شکایتونو په کمیسیون کې د راپې له حق پرته د دوه نړیوالو څارونکو شتون د کمیسیون په کاري روڼتیا کې ډېره مرسته کوي.




*شکل ۲۱: د کاري روڼتیا لپاره د ټاکنیزو شکایتونو په کمیسیون کې دوه نړیوالو څارونکو غړو شتون*

د دې موضوع په هکله د افغان ملت د حزب استازی استانه ګل شېرزاد وایي: *"زه د دې موضوع پلوي یم ځکه چې دغه کسان د ملګرو ملتونو د استازو په توګه، نه د کوم بهرني هېواد د کارکوونکي په توګه د شکایتونو په کمیسیون کې شتون مومي. په دې حالت کې په هېڅ ډول ملي حاکمیت تر پوښتنې لاندې نه راځي. ولسمشر کرزي له دې کبله دا موضوع رد کړه چې پر هغو یې زور نشو اچوی."* خو د پارلمان غړې شیرین محسني وایي چې دې ان وړاندیز کړی و چې دوی دې د راپې حق هم ولري، خو دا موضوع د مخکني ولسمشر لخوا رد شوه.

## ۳. د راتلونکو پارلماني ټاکنو ستونزې

د اساسي قانون د ۸۳یمې مادې پر بنسټ پارلماني ټاکنې باید د سږ کال د چنګاښ له لومړۍ څخه دېرش تر شپېتو ورځو مخکې وشي، خو دا چې د ټاکنیزو اصلاحاتو کمیسیون چې په ټاکنیز نظام کې د بنسټیزو اصلاحاتو رامنځته کولو په موخه د سیاسي هوکړو پر بنسټ رامنځته شوی وای، ځنډېدو د ټاکنیز نظام د اصلاح او شتو په کوته کولو ډېر له ځنډ سره مخامخ کړی دی. په ځینو رپوټونو کې راغلي چې په هېواد کې د امنیت نشتوالي، د ټاکنیزو بنسټونو د جوړښت او قوانینو نه څرګندوالي، د برېښنایي پېژندپاڼو نه وېش، د سیاسي- قومي ببلابېلو ائتلافونو جوړول او د یوې ملي اجماع نشتوالي، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د مسوولینو اداري ضعف او د ټاکنو په ترسره کولو کې نه پاملرنې او د رڼو او عادلانه ټاکنو لپاره په حکومت د سیاسي ارادې نشتوالی چې د راتلونکو پارلماني ټاکنو په لار کې له خنډونو څخه شمېرل کېږي، له کبله به دا ټاکنې یو کال وځنډېږي.

دېرې ځواب ویونکو ټینګار درلود ترڅو چې برېښنايي پېژندپاڼې ونه وېشل شي، د رڼو او عادلانه ټاکنو تر سره کول به ناشوني وي. د امنیت نشتوالی، د کمیسیون د کارکوونکو نه بې پرېتوب او د بهیر ناسمه اداره د راتلونکو ټاکنو تر مخ له تر ټولو مهمو ستونزو څخه شمېرل کېږي.




*شکل ۲۲: د ټاکنیزو نوماندانو پر وړاندې مهمې ستونزې*

### ۳,۱. د نوماندانو لپاره د امنیت نشتوالی

تجربو ښودلې چې تر ټولو دېرې درغلۍ په هغو سیمو کې شوې، چې هغه ناامنه وې او هلته ملي او نړیوال څارونکي نه وو. له دې کبله د سم امنیت ساتل له یوې خوا د ټاکنیزو مبارزو د سم بهیر لامل کېږي او له بلې خوا د دغه بهیر د مشروعیت او روڼتیا لپاره د ملي او نړیوالو څارونکو شتون او د خلکو ګډون ته لار هواروي.

### ۳,۲. پر ټاکنیزو کمیسیونونو نه ډاډمنتیا

بې له شکه ترڅو چې د ټاکنو په قانون، سیستم او د ټاکنیزو بنسټونو په کړنلارو او لوایحو کې له محتوایي اصلاحاتو سره د مسلکي، ژمن او خپلواکه کسانو ګمارنې په څرګنوالي کې اړین اصلاحات رامنځته نشي، د هر ډول ټاکنو کول به د وخت ضایع کولو څخه پرته کومه لاسته راوړنه ونه لري، بلکې په ببلابېلو کچو کې به د ناورین رامنځته کېدو لامل شي. له دې کبله اړینه ده ترڅو د ټاکنیزو بنسټونو په کاري واکونو او جوړښت کې بنسټیز اصلاحات رامنځته شي او له بلې خوا ټول هغه کسان چې په درغلیو کې یې لاس درلود او ونډه یې درلوده، باید تر قانوني پوښتنو او ګروېږنو لاندې ونیول شي ترڅو راتلونکې لپاره عبرت وي.

### ۳,۳. د ټاکنو په بهیر کې د سیمه ییزو زورواکو لاسوهنه

د امنیتي بنسټونو صادقانه همکاري او ژمنه او د امنیت ساتل او د څارونکو شتون له یوې خوا او د رايي ورکوونکو او نوماندانو پوهاوی او د قانون واکمنتیا او د عدالت ټینګښت له هغو تضمینونو څخه دي چې د سیمه ییزو چارواکو او زورواکو د لاسوهنې مخنیوی کوي.

### ۳,٤. له مشخصو کسانو څخه د کمیسیونونو د چارواکو ملاتړ

ټاکنیز کمیسیونونه په خپلواکه توګه عمل کوي او د هېڅ بنسټ او ارګان تر اغېزې لاندې نه وي، خو موږ د ۱۳۹۳ کال په ټاکنو کې د دغه دواړو کمیسیونونو د زرګونو کارکوونکو د پراخو درغلیو او سرغړونو شاهد وو. سره له دې چې د ټاکنو کمیسیون په ۱۳۸۸ (۲۰۰۹) کال کې د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې خپل ګڼ شمېر کارکوونکي په درغلیو کې د لاس لرلو په تور له دندې ګوښه کړل، خو سره له دې هم په ۱۳۹۳ (۲۰۱۴) ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې ټاکنیزو کارکوونکو په ټاکنیزو درغلیو کې په پراخه پیمانه لاس درلود او کمیسیون هغوی له دندو ګوښه کړل.

د قانون له مخې د ټاکنیزو کمیسیونونو چارواکي او غړي د دندې پر مهال باید کوم حزب یا سیاسي ائتلاف سره تړاو یا اړیکې ونه لري. ټاکنیز کارکوونکي هم له دې کبله چې د ټاکنو په بهیر کې په مخامخ توګه ښکېل دي، باید له کوم ټاکنیز نوماند یا حزب سره تړاو ونه لري او پلوي کولو ونه کړي.

### ۳,٥. د مالي توان نه درلودل

د نوماندانو ټاکنیزو مبارزو تر سره کولو لپاره کافي مالي سرچینې ته اړتیا ده ترڅو د ټاکنو نوماندان وتوانېږي پراخ او فعال تبلیغات ولري. د ټاکنو د قانون له ۴۹مې مادې سره سم د نوماندانو د ټاکنیزو لګښتونو کچه په ګوته شوې، په دې ډول چې د ولسي جرګې نوماندان نشي کولای په ټاکنیزو مبارزو کې له یو میلیون افغانیو زیاتې پیسې ولګوي. خو د ټاکنو کمیسیون د ټاکنیزو مبارزو پر مهال د نوماندانو د پروګرامونو او فعالیتونو په هکله هېڅ ډول رسمي څارنه نه درلوده. په داسې حال کې چې ځینې نوماندان توانېدلي وو چې له نورو سرچینو څخه مالي مرستې ترلاسته کړي ترڅو د لویو ښارونو په کچه پراخ تبلیغات وکړي او وتوانېدل په ډېر لوړ لګښت پراخ تبلیغات ولري. خو په عین وخت کې ځینو نوماندانو په لوړ لګښت د ټاکنیزو مبارزو لپاره توان نه درلود.

### ۳,٦. د حزبي سیستم نشتوالی

افغانستان یو داسې هېواد دی چې سیاسي حزبونو یې په حکومت او پارلمان کې په بنسټیزه توګه فعال رول نه دی تجربه کړی. د ټاکنو په بهیر کې د حزبونو رول د دې لامل کېږي ترڅو په قدرت کې سیاسي حزبونه ونډه واخلي. له تېرو کلونو تر اوسه بېلابېلو حزبونو د سیاست په برخه کې کډ شوي ترڅو وتوانېږي د خپلو استازو پر مټ په حکومت کې فعالیت وکړي. په هېواد کې د سیاسي حزبونو د فعالیتونو محدودول یا ونډه نه ورکول په تېره بیا ټاکنو ته ورته ډموکراتیک بهیر کې، د دې لامل کېږي چې د حزبونو شتون ورو، ورو کم رنګه شي او په پایله کې د ډموکراتیک نظام مشروعیت له منځه ولاړ شي او ډموکراتیک نظام تر پوښتنې لاندې راشي.

## ٤. په راتلونکو ټاکنو کې د نړيوالې ټولنې رول

نړيواله ټولنه له افغانستان سره په مرسته کولو کې لويه ونډه ولري په تېره بيا د ټاکنو په برخه کې چې د څو کلونو په اوږدو کې د نوي دولت له جوړېدو وروسته رامنځته شوی دی. لکه څنګه چې د ۱۳۹۳ کال په ټاکنو کې نړيوالې ټولنې د ټاکنو په تدارکاتي او فني برخو کې د پام وړ رول لوبولی دی. خو وکيلان د مالي بودجې ورکول، د تخنيکي وسايلو برابرول او د ورتيا لوړول د افغانستان په ټاکنو کې د نړيوالې ټولنې له ټولو غوره رول څخه بولي.




*شکل ۲۳: په راتلونکو ټاکنو کې د نړيوالې ټولنې رول*

بايد په پام کې ونيول شي چې د هر هېواد ټاکنې له ملي او نړيوال اعتبار څخه برخمنې وي. د افغانستان د ټاکنو د قانون له مخې ملي او نړيوال څارونکي کولای شي چې د ټاکنو له بهير څخه څارنه وکړي. د ټاکنيز کميسيون څخه د بهرنيو د څارنې رول له پامه نشو غورځولای.

## پایله

د ټاکنیزو اصلاحاتو په نظر پوښتنه کې چې د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو موسسې (فیفا) پر مټ د ولسي جرګې له غړو سره شوې، په سیستم کې د اصلاحاتو بنسټیزه اړتیا، د بهیر اداره او د افغانستان د ټاکنو حقوقي چوکاټ تر پوښتنې لاندې نیول شوې. په دې نظر پوښتنه کې د ټاکنیزو اصلاحاتو لپاره د لارو چارو لټولو سربېره په ټاکنو کې د نوماندانو لپاره ستونزې په ګوته شوې ترڅو په راتلونکې کې ازادو او عادلانه ټاکنو ته لار هواره کړي. کومې مهمې پایلې چې باید د ټاکنیزو اصلاحاتو د کمیسیون له کړنو څخه لاسته راشي، هم د دې نظرپوښتنې له بحثونو څخه وې.

د پارلمان غړي چې ۶۹٪ یې په راتلونکو ټاکنو کې د نوماند په توګه خپل ګډون اعلان کړی، د ټاکنو د بهیر ناسمه اداره، د امنیت نشتوالی، د ټاکنو د کمیسیون د کارکوونکو نه بې پرېتوب، د زورواکو لاسوهنه او د رایې ورکوونکو په تېره بیا ښځینه رایې ورکوونکو لپاره د اسانتیا نشتوالی د اندېښنې وړ بولي. د دې نظرپوښتنې موندنې ښیي چې ټاکنیزو اصلاحاتو ته ډېره اړتیا ده او یوازې ټاکنیز اصلاحات د ازادو او عادلانه ټاکنو ته لار هواروي. د نظرپوښتنې ګډون کوونکي د ټاکنیزو اصلاحاتو کمیسیون یوازینۍ لار بولي او ټینګار کوي چې د دغه کمیسیون غړيتوب لپاره باید وړ کسان چې د ټاکنو اړوند برخه کې یې لږ تر لږه تجربه ولري، انتصاب شي. دغه کمیسیون باید د ټاکنیزو اصلاحاتو لپاره ملي استراتیژي جوړه کړي. همدارنګه وکیلان د ټاکنیزو اصلاحاتو له کمیسیون سره د ټاکنو اړوند ټولو بنسټونو هراړخیزه همکاري اړینه بولي.

تر ټولو مهمه اصلاحي لارې چې زیاترو وکیلانو ورسره هوکړې کړې ده، په لاندې ډول دي:

- د ټاکنیز سیستم بدلون داسې چې د حزبونو د شتون او پیاوړتیا لامل شي،
- د سزا په قانون کې د ټاکنیزو جرمونو تعریف او درغلي کوونکو او سرغړوونکو لپاره د نغدي جریمې سربېره د حبس په پام کې نیول،
- د ټاکنو کمیسیون په ولایتي کمیسیونونو باندې د ټاکنو کمیسیون د ولایتي دفترونو بدلېدل،
- ټاکنیزو نوماندانو سره د حقیقي او حکمي کسانو د مالي مرستو محدودیت،
- د ټاکنیزو کمیسیونونو د غړو لیږې کولو د شرایطو زیاتوالی او په قانون کې د کمیسیون د غړو د لیږې کوونکي بنسټ په ګوته کول،
- په قانون کې د ټاکنیزو کمیسیونونو د دارالانشا د مشر د واکونو او مسوولیتونو په ګوته کول،
- د څارونکو غړو په توګه د ټاکنیزو شکایتونو په کمیسیون کې د ۲ نړیوالو غړو شتون او
- په قانون کې د ټاکنیزو کمیسیونونو د غړو د معاش او امتیازاتو په ګوته کول دی.

د ټاکنیزو کمیسیونونو د ځواب ویلو او روڼتیا رامنځته کول باید د ټاکنیزو اصلاحاتو له بنسټیزې برخې څخه وي. د ولسي جرګې د غړو لخوا د ټاکنیزو کمیسیونونو غړو ته د تاییدي رایې ورکول د ټاکنیزو بنسټونو د خپلواکۍ زیاتوالي او ځواب ویلو لپاره اغېزمن وګڼل شوه او د فوکس ګروپ په غونډو کې هم تائید شوه. د لا روڼتیا رامنځته کولو او د دواړو خواو د رضایت ترلاسه کولو لپاره د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون باید د ټولو شکایتونو په هکله علني پرېکړې وکړي او د خپلو تصمیمونو بنسټ خلکو لپاره څرګند کړي.

د ښځینه نوماندانو لپاره د شرایطو له اسانتیا (د ملاتړ کارتونو شمېر، د ضمانت پیسې ...) سره د ۵۸٪ وکیلانو مخالفت چې ۸۳،۳٪ یې نارینه وکیلان دي، د وکیلانو د فوکس ګروپ په غونډو کې ناسم وګڼل شو. د مدني ټولنې د بنسټونو او د حزبونو د فوکس ګروپ غړو هم وویل چې په ناسمو ټولنیزو شرایطو کې باید د ښځو لپاره د نوم لیکنې او همدارنګه د ټاکنیزو مبارزو پر مهال لازمې اسانتیاوې په پام کې ونیول شي.

د فیفا د ۱۳۹۳ کال د ټاکنو رپوټ د پایلو د جمع بندۍ ملي مرکز کې د پام وړ روڼتیا نشتوالی ښيي (د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو د لومړي پړاو په پایلو کې څه دپاسه ۶۰۰ زره رایې توپیر). د فوکس ګروپ غړو د روڼتیا نشتوالي باندې بحث وکړ او وړاندیز یې وکړ ترڅو له بهیر څخه د څارنې اسانتیا او په لږ وخت کې د پایلې اعلانېدو لپاره د ولسوالیو په کچه د جمع بندۍ مرکزونه رامنځته شي او د هر ولایت لومړنۍ پایلې په همغه ولایت کې اعلان شي.

ګډون کوونکو د افغانستان په ټاکنو کې د نړیوالې ټولنې رول بنسټیز وباله او مالي بودجې ورکولو سربېره د تخنیکي وسایلو په برابرولو، د وړتیا لوړولو، له ټاکنو څخه د سیاسي ملاتړ او د عامه پوهاوي د پروګرامونو له لارې د عامه پوهاوي زیاتوالي په برخه کې اغېزمن بولي. د فوکس ګروپ د غونډو غړو د هغو څارنیز رول باندې هم ټینګار وکړ.

د دې نظرپوښتنې پایلې د ټاکنیزو اصلاحاتو لپاره پراخې برخې په ګوته کوي. د ازادو او عادلانه توګه د راتلونکو پارلماني ټاکنو ترسره کولو لپاره باید لږ تر لږه لنډمهالي اصلاحات پلې شي. د ملي یووالي حکومت د خپلو ژمنو سره سم باید په دې برخه کې کلکه پاملرنه وکړي او اړین اصلاحات رامنځته کړي.

## متودولوژي

د دې نظرپوښتنې بنسټ د ټاکنیزو اصلاحاتو په هکله ده چې په ټولیزه توګه د ولسي جرګې د وکیلانو، حزبونو او مدني ټولنې لیدلوري او نظرونه بیانوي. د دغو لیدلورو ترلاسه کولو لپاره د اطلاحاتو د راټولولو بېلابېلې لارې لکه د شته متنونو پلټنه، پوښتنپاڼې، د ولسي جرګې له وکیلانو سره مرکه او ډله ییز بحثونه کارول شوي دي.

### د شته متونونو پلټنه

د دې نظرپوښتنې په سر ته رسولو کې د پوښتنپاڼې د جوړولو لپاره شته متنونه وپلټل شول. په ځینو مادو کې لاڅرګندوالي لپاره د هېواد رسمي قوانین هم کتل شوي دي. دغه ماخذ اساسي قانون، د ټاکنو قانون، د ټاکنیزو کمیسیونونو د جوړښت، دندو او واکونو قانون دی. د فیفا او نور بنسټونو څارنیزې موندنې هم کارول شوي دي. د کارول شویو سرچینو لېسټ د رپوټ په ضمیمه۱ کې ترلاسه کولای شئ.

### پوښتنپاڼه

د فیفا د څېړنې ډلې د پوښتنپاڼې له جوړولو مخکې د ټاکنو اړوند قانوني سرچینې او اسناد لوستلي دي. په پوښتنپاڼه کې د مرکه کوونکو د ځانګړنو (ډیموګرافي) په برخه کې په ټوله کې ۳۵ پوښتنې وې. په پوښتنپاڼه کې د ډیموګرافي له په پام کې نیولو پرته څلور اصلي موضوعګانې شاملې وې: ۱) د پارلمان کړنې؛ ۲) راتلونکې ټاکنې؛ ۳) د ټاکنیزو اصلاحاتو د کمیسیون جوړښت؛ او ۴) د راتلونکو ټاکنو اصلاحات. پوښتنپاڼه په دوه ژبو پښتو او دري جوړه شوې وه. د پوښتنپاڼې د جزئیاتو ترلاسه کولو لپاره د دغه رپوټ ضمیمه ۴ وګورئ.

### د پوښتنپاڼې ازمېښت/ ټسټ

مخکې له دې چې د نظرپوښتنې کار پیل شي، د فیفا د څېړنې ډلې د دې لپاره چې د پوښتنو له څرګندوالي او د هر ډول ګونګتیا نشتوالي څخه ډاډ ترلاسه کړي، پوښتنپاڼه یې وازمیله. دا ازمېښت له هغو کسانو سره چې ټولنیز او حقوقي موقف یې له وکیلانو سره په یوه حد کې وه، تر سره شو.

### بېلګه اخیستنه

د نظرپوښتنې لپاره د وکیلانو په ګوته کولو کې بېلابېلې ځانګړنې په پام کې ونیول شوې. د فیفا له پلان سره سم باید په دې نظرپوښتنه کې د ولسي جرګې ۵۰٪ غړو ګډون کړی وای. په لومړي ګام کې په ولسي جرګه کې د ولایتونو نیمايي وکیلان د خپور شوي لېسټ له مخې په عددي توګه تثبیت شول. ورپسې د ټولو ولایتونو وکیلان د ملیت او جنسیت پر بنسټ په څو کتارونو ووېشل شول. په پایله کې له دسته بندی څخه وروسته له بېلابېلو کتارونو څخه د هر کتار د ونډې له مخې وکیلان په ناڅاپي توګه د نظرپوښتنې لپاره په ګوته شول. د نظرپوښتنې ترسره کولو پر مهال کله چې کوم وکیل ته لاسرسی نه وو او یا یې لېوالتیا نه درلوده، پر ځای یې د کتار یو بل کس ټاکل کېده. په دغه بدلولو کې له پاتې کسانو څخه په ناڅاپي توګه بل کس ټاکل کېده.

### مرکه

د دې نظرپوښتنې مرکې د ولسي جرګې له ۱۵ وکیلانو سره شوې دي. په دې مرکه کې شپږ پوښتنې وې چې هم مخامخ او هم د ټلیفون له لارې شوې، د مرکې په بهیر کې په ټوله کې ۱۲۰ دقیقې ثبت شوی او له لیکلو وروسته د کوډ ورکونې د سافټویز پر مټ تجزیه او شننه شوې ترڅو په دغه څېړنیز رپوټ کې ترې ګټه پورته شي. د دې نظرپوښتنې د مرکې پوښتنې د دغه رپوټ په ضمیمه ۴ کې کتلای شئ.

### ډله ییز بحثونه

د نظرپوښتنې د کیفیت لاښه کېدو په موخه فیفا درې ډله ییز بحثونه Focus Group د فیفا په دفتر کې جوړ کړل. په ډله ییز بحثونو کې مهمې یادې شوې پوښتنې د ټاکنیزو اصلاحاتو په هکله د نظرپوښتنې تر ټولو مهمو موندنې په هکله وې. هر ډله ییز بحث نږدې دوه ساعته وخت ونیوه. لومړی ډله ییز بحث د ولسي جرګې له وکیلانو سره او دویم او دریم ډله ییز بحث د حزبونو او مدني ټولنې له استازو سره وشو. په ډله ییز بحثونو کې د یادو شویو پوښتنو لپاره د دغه رپوټ ضمیمه ۳ وګورئ.

# ضميمې

## ضميمه ۱: کارول شې سرچينې


۱. ځارنيز رپوټ، ۱۳۹۳ ټاکنې، د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو موسسه (فيفا)، ۱۳۹۴

۲. ډموکراسی او ټاکنې: د افغانستان د خلکو انګېرنې، د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو د موسسې (فيفا) پر مټ نظرپوښتنه، ۱۳۹۲، نظرپوښتنه

۳. لومړی ازمېښت؛ د ۱۳۹۳ ټاکنې، د ۱۳۹۳ کال د ولسمشريزو او ولايتي شوراګانو د ټاکنو د رايې ورکوونکو د نوم ليکنې له بهير څخه مشاهده، د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو موسسه (فيفا)، د ۱۳۹۲ منی، د مشاهدې رپوټ

۴. د ټاکنو د قانون په اړه د ولسي جرګې له غړو سره سروې، د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو موسسه (فيفا)، د ۱۳۹۲ وري مياشت، نظرپوښتنه

۵. په افغانستان کې له ټاکنو او ټاکنيزو مدني روزنو څخه لاسته راغلو زده کړو په هکله نظرپوښتنه، کليدي موندنې، انټرنشنل ډموکراسي، د ۱۳۹۳ کب، نظرپوښتنه

٦. Final report Presidential Election, ٥ April and ١٤ June ٢٠١٤, European Union Election Assessment Team, ٢٠١٤

٧. Presidential and Provincial Council elections ٥ April and ١٤ June ٢٠١٤, OSCE/ODIHR Election Support Team Report, Office for Democratic Institutions and Human Rights, Dec٥, ٢٠١٤


## ضميمه ۲: د مرکې پوښتنې

وروسته له هغه چې د ولسي جرګې له وکيلانو سره د پوښتنپاڼو له لارې د ټاکنيزو اصلاحاتو نظرپوښتنه وشوه، فيفا د ولسي جرګې له وکيلانو څخه شپږ تشريحي پوښتنې وکړې.

١. د ټاکنيز سيستم له بدلون سره داسې چې د حزبونو شتون پياوړی کړي، همغږي ياست؟ مهرباني وکړئ خپل دلايل موږ ته ووایاست.

٢. د ټاکنيزو کميسيونونو له کره او بې پرې کړنو څخه د ډاډ ترلاسه کولو او د پرلپسې رېوټونو د وړاندې کولو لپاره د کومې کړنلارې وړانديز کوئ؟

٣. د تېرو ټاکنو تجربې ته په کتو سره څرنګه کېدای شي چې پر ټاکنيز کميسيونونو او د ټاکنو پر بهير باندې د خلکو باور بيا تر لاسه شي؟

٤. د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون لخوا ټاکنيزو شکايتونو ته رسېدنه او پلټنه څه وخت اغېزمنه کېدای شي؟

٥. پارلمان د بريښنايي پېژندپاڼو د وېشلو د بهير په ژر پيلېدو کې څه رول لوبولای شي؟

٦. څنګه کېدای شي چې د ټاکنو په بهير کې د حکومت د لاسوهنې مخه ونيول شي.؟

هغه څرګندونې چې د ډله ييزو بحثونو له غږيزو فايلونو څخه د متن په توګه جوړې شوې وې، جلا او کوډ ورکړل شو. وروسته بيا دغه متنونه د Nvivo کيفي موادو د شننې پروګرام ته ولېږدول شول.

## ضمیمه ۳: ډله ییز بحثونه

ډله ییز بحثونه په درېو جلا غونډو کې د ټاکنیزو اصلاحاتو په هکله د ولسي جرګې له وکیلانو، د مدني ټولنې له بنسټونو او حزبونو سره د فیفا په دفتر کې جوړ شول.

۱. د پارلمان ۶۰ ٪ وکیلان د ټاکنیز سیستم له بدلون سره داسې چې د حزبونو شتون پیاوړی کړي، همغږي دي او ۳۴ ٪ یې د حزبونو لپاره ځانګړې کېدونکې څوکیو شمېر د ۱۰۰ تر ۲۰۰ څوکیو تر منځ بولي. د تاسو په اند څرنګه کولای شو ټاکنیز قوانین د اوسني سیستم په پام کې نیولو سره بدلون ورکړو. همدارنګه له نوي سیستم څخه د خلکو د پوهاوي کچه په لنډ وخت کې څنګه لوړولای شو؟

۲. ۸۱ ٪ وکیلان د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون د تصمیمونو د بنسټ څرګندوالي او په علني توګه د پرېکړو کول د دواړو خواو د رضایت ترلاسته کولو او د روڼتیا رامنځته کېدو کې ډېر اغېزمن بولي. تاسو د کومې بلې لار وړاندیز کوئ ترڅو د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون په کړنو کې د لازیاتې روڼتیا رامنځته کېدو لامل شي؟

۳. ۴۸ ٪ وکیلان د ټاکنو کمیسیون ولایتي کمیسیون باندې د ولایتي دفترونو بدلېدو سره همغږي ښودلې او ۴۶ ٪ یې مخالف دي. د دې موضوع پلویان وایي چې ولایتي کمیسیون کولای شي د ولایت په کچه د ټاکنو کمیسیون له کړنو څخه لا ښه څارنه وکړي. د تاسو په اند د ولایتي کمیسیون رامنځته کېدل به د کمیسیون په چارو کې د روڼتیا زیاتوالي لامل شي؟ څرنګه او څه ډول؟

٤. ۴۲ ٪ وکیلان د ښځینه نوماندانو لپاره د نوماندۍ د شرایطو (د ملاتړیزو کارتونو شمېر، د تضمین پیسې ...) د اسانتیا غوښتونکي دي. له ۵۸ ٪ مخالف وکیلانو څخه ۸۳،۳ ٪ یې نارینه وکیلان دي. ولې زیاتره نارینه وکیلانو له دې موضوع سره مخالفت ښودلی دی؟

۵. ۶۴ ٪ وکیلان د ټاکنیزو کمیسیونونو د خپلواکۍ د ساتلو په پام کې نیولو سره وایي چې د دغو کمیسیونونو غړي باید په یوازېتوب له پارلمان څخه د تایید رایه واخلي. د تاسو په اند له پارلمان څخه د کمیسیون د غړو د رایې اخیستل (د تایید رایه یا د باور رایه) کولای شي د دغه کمیسیون خپلواکي تضمین او د سیاسي نفوذ مخنیوی وکړي؟

٦. ۶۴ ٪ وکیلان باوري دي چې د ټاکنیزو شکایتونو په کمیسیون کې د رایې له حق پرته د دوه نړیوالو څارونکو غړو شتون د دغه کمیسیون د چارو لا روڼتیا کې ډېره مرسته کوي. دغه دوه غړي د رایې له حق او هېڅ واک پرته څنګه روڼتیا رامنځته کولای شي؟ او په دغه حالت کې ملي حاکمیت تر پوښتنې لاندې نه راځي؟

۷. یوه لار چې ټاکنیز کمیسیونونه لازیات ځواب ویلو ته اړ باسي، د رپوټ له وړاندې کولو سره د خلکو خبرول دي. دغه رپوټ په کلنۍ توګه یا په کال کې دوه ځله پارلمان ته وړاندې کېږي. د تاسو په اند دغه لار به د ځواب ویلو وړ وي؟

۸. د فیفا مشاهدې ښیي چې د ټاکنو په لومړي پړاو کې په ټوله کې ۱۷۱۰۱ محلات چې پایلې د دواړو ټاکنو لپاره اعلان شوي، د دغو محلاتو ۹۳ سلنه پایلې د دواړو ټاکنو لپاره سره سمون نه لري. د ولایتي شوراګانو د ټاکنو لپاره د ۳۰ ٪ محلاتو رایې (۱۷۸ زره رایې) د ولسمشریزو ټاکنو د رایو په پرته ډېرې دي او د ولسمشریزو ټاکنو لپاره د ۷۰ ٪ محلاتو رایې (۴۵۷ زره رایې) ډېرې دي. د رایو توپیر د ۰ څخه تر ۶۰۰ رایو تر منځ دی. تاسو د ورته پایلو د مخنیوي لپاره کومه لار وړاندیز کوئ؟

۹. فیفا وړاندیز کوي ترڅو د ولسوالیو په کچه د پایلو د جمع بندۍ مرکزونه جوړ کړي. تاسو له دغه نظر سره همغږي یاست؟ خپل دلایل موږ ته ووایئ.

هغه څرګندونې چې د ډله ییزو بحثونو له غږیزو فایلونو څخه د متن په توګه جوړې شوې وې، جلا او کوډ ورکړل شو. وروسته بیا دغه متنونه د Nvivo کیفي مواد د شننې پروګرام ته ولېږدول شوې.

## ضمیمه ۴: پوښتنپاڼې

| | |
|---|---|
| د پوښتنپاڼې نمبر | |
| د مرکه کوونکي نوم | |
| د مرکه کوونکي د پلار نوم | |
| | ورځ   میاشت   کال |
| د مرکې نېټه | /   / ۱۳۹۳ |
| د مرکې د پیل وخت | --:-- ☐ له غرمې مخکې / ☐ له غرمې وروسته |

### A. د ملي شورا له درنو غړو سره د سروې موخه او پېژندنه

په ټاکنیز نظام کې د اصلاحاتو راوړل د ملي یووالي د حکومت له کاري لومړیتوبونو څخه شمېرل کېږي، خو تر اوسه په دې برخه کې کوم عملي ګام نه دی پورته شوی. له اصلاحاتو پرته د ټاکنو کول به بیا هم د تېرو ټاکنو په څېر ستونزې له ځان سره ولري. غواړو پوه شو چې په دې برخه کې د خلکو د استازي او د راتلونکو ټاکنو لپاره د احتمالي نوماند په توګه د تاسو نظر څه دی او د ټاکنیزو اصلاحاتو لپاره د ملي یووالي حکومت باید کومه کړنلاره خپله کړي.

په دې سروې کې چې د مدني ټولنې د یوې خپلواکې او د ټاکنو پر بهیر د څارونکې موسسې په توګه د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو موسسې (فیفا) لخوا شوې، یوازې د ولسي جرګې د درنو غړو نظرونه خپرېږي. له دې کبله هیله من یو چې پوښتنې خپله د ولسي جرګې غړي ځواب کړي. دا سروې به د ولسي جرګې د درنو غړو ۱۵ دقیقې وخت ونیسي او د درنو غړو نوم او ځانګړنې به پټ وساتل شي. د دې سروې پایلې به د پارلمان له غړو، حکومت، مدني ټولنې او نورو مینه والو سره شریک کړای شي.

### B. د ځواب ویونکي وکیل په هکله معلومات

۱. د ځواب ویونکي وکیل نوم: (که چېرې نه غواړې، مه یې لیکئ) ____________________

۲. د ځواب ویونکي وکیل د اړیکې شمېره: (که چېرې نه غواړې، مه یې لیکئ) ____________________

۳. د ځواب ویونکي وکیل جنسیت

| | |
|---|---|
| نارینه | ۱ |
| ښځینه | ۲ |

۴. څو کلن یاست؟ مهرباني وکړئ په عدد یې ولیکئ.

| | |
|---|---|
| | |

۵. تاسو د کوم ولایت استازیتوب کوئ؟

| |
|---|
| |

٦. د تاسو تر ټولو لوړه تحصیلي درجه څومره ده؟

| | |
|---|---|
| هېڅ کله ښوونځي ته نه یم تللی | ١ |
| دیني علوم (مدرسه) | ٢ |
| لومړنی ښوونځی | ٣ |
| متوسط ښوونځي | ٤ |
| د څوارلسم ټولګي فارغ | ٥ |
| د لیسانس تحصیلي درجه | ٦ |
| د ماسټرۍ تحصیلي درجه | ٧ |
| د دوکتورا تحصیلي درجه | ٨ |
| نور (مهرباني وکړئ ځواب درته ولیکئ) | ٩ |
| نه غواړم ځواب ووایم | ٩٩٩ |

٧. د تاسو قومیت څه دی؟

| | |
|---|---|
| پښتون | ١ |
| تاجیک | ٢ |
| هزاره | ٣ |
| ازبک | ٤ |
| ترکمن | ٥ |
| بلوچ | ٦ |
| نورستانی | ٧ |
| هندو | ٨ |
| ایماق | ٩ |
| قرقیز | ١٠ |
| عرب | ١١ |
| پشه ای | ١٢ |
| نور (مهرباني وکړئ ځواب دلته ولیکئ) | ١٣ |
| نه غواړم ځواب ووایم | ٩٩٩ |

۸. تاسو کوم پارلماني ګروپ پورې تړاو لرئ؟

| | |
|---|---|
| د اعتماد پارلماني ګروپ | ۱ |
| د عدالت غږ پارلماني ګروپ | ۲ |
| د سبا پارلماني ګروپ | ۳ |
| د سولې کاروان پارلماني ګروپ | ٤ |
| د رسالت پارلماني ګروپ | ٥ |
| د ملي سعادت پارلماني ګروپ | ٦ |
| د ملی پارلماني ګروپ | ۷ |
| هېڅ یو | ۸ |
| نور (مهرباني وکړئ ځواب دلته ولیکئ) | ۹ |
| نه پوهېږم | ۹۹۸ |
| نه غواړم ځواب ووایم | ۹۹۹ |

## C. د پارلمان کړنې

۹. د قانون له مخې د پارلمان لپاره درې دندې په ګوته شوي دي. د تاسو په اند اوسنی پارلمان د دغو دندو په هرې یوې کې څومره بریالی وو؟

| | ۱ | ۲ | ۳ | ٤ | ۹۹۸ | ۹۹۹ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | ډېر زیات | زیات | لږ | ډېر لږ | نه پوهېږم | نه غواړم ځواب ووایم |
| ۹,۱. د حکومت پر کړنو څارنه | | | | | | |
| ۹,۲. د قوانینو تصویب | | | | | | |
| ۹,۳. د خلکو استازیتوب | | | | | | |

۱۰. د تاسو په اند د یوشمېر وکیلانو پرلپسې ناسوبتیا د پارلمان پر کړنو تر کومه ناوړه اغېزه کړې ده؟

| | |
|---|---|
| ډېر زیات | ۱ |
| زیات | ۲ |
| لږ | ۳ |
| ډېر لږ | ٤ |
| نه پوهېږم | ۹۹۸ |
| نه غواړم ځواب ووایم | ۹۹۹ |

## D. د راتلونکو ټاکنو په هکله پوښتنې

۱۱. تصميم لرئ چې په راتلونکو پارلماني ټاکنو کې یوځل بيا ځان ونوموئ؟

| | |
|---|---|
| هو(۱۱,۲ پوښتنه ځواب شي) | ۱ |
| نه (۱۱,۱ پوښتنه ځواب شي) | ۲ |
| په دې هکله مې تراوسه تصميم نه دی نيولی (۱۲مه پوښتنه ځواب شي) | ۹۹۸ |
| نه غواړم ځواب ووایم (۱۲مه پوښتنه ځواب شي) | ۹۹۹ |

۱۱,۱. درې دليله چې تاسو يې له امله په راتلونکو ټاکنو کې ځان نه نوموئ، په ګوته کړئ.

| | |
|---|---|
| زما په ولايت کې د ټاکنيزو مبارزو او نوماند لپاره کافي امنيت نشته | ۱ |
| په ټاکنو کې درغلی کېږي | ۲ |
| پر ټاکنيزو کميسيونونو ډاډمن نه يم | ۳ |
| د ټاکنو په بهير کې سيمه ييز زورواکي لاسوهنه کوي | ٤ |
| دولتي چارواکي د ټاکنو په بهير کې لاسوهنه کوي | ٥ |
| د ټاکنو کميسيون چارواکي له مشخص کسانو څخه ملاتړ کوي | ٦ |
| د کمپاين لپاره کافي پيسې نه لرم | ٧ |
| ګومان کوم چې خلک به رايه رانکړي | ٨ |
| شخصي ستونزې لرم چې بايد هغه هوارې کړم | ٩ |
| نور (مهرباني وکړئ ځواب دلته وليکئ) | ١٠ |
| نه پوهېږم | ۹۹۸ |
| نه غواړم ځواب ووايم | ۹۹۹ |

۱۱,۲. تاسو به په خپلواکه توګه نوماند شئ او يا د کوم حزب يا سياسي ايتلاف لخوا؟

| | |
|---|---|
| په خپلواکه توګه به ټاکنو ته ځان ونوموم | ۱ |
| د حزب يا سياسي ايتلاف په استازيتوب به ځان ونوموم | ۲ |
| نه پوهېږم | ۹۹۸ |
| نه غواړم ځواب ووايم | ۹۹۹ |

۱۲. درې مهمې ستونزې چې د تاسو په ولايت کې د يوه ټاکنيز نوماند تر مخ پرتې دي، په ګوته کړئ.

| | |
|---|---|
| د سيمې خلک به د رايې ورکونې به بهير کې ګډونه ونه کړي (۱۲,۱ پوښتنه ځواب شي) | ۱ |
| د رايې ورکونې مرکزونه به اړينې اسانتياوې ونه لري | ۲ |
| د ټاکنيزو بنسټونو پر مټ د بهير ناسمه اداره | ۳ |
| د کلتوري خنډونو له کبله د رايې ورکونې په بهير کې د ښځو نه ګډون | ٤ |

| | |
|---|---|
| سیمه ییز زورواکي په ځانګړو نوماندانو په ګټه لاسوهنه کوي | ٥ |
| د ټاکنو کمیسیون کارکوونکي خپل بې پرېتوب نه ساتي | ٦ |
| د نوماندانو لپاره د امنیت نشتوالی (د نوم لیکنې او د ټاکنیزو کمپاینونو په بهیر کې) | ٧ |
| د رایې ورکونې مرکزونه د خلکو د استوګنې ځایونو څخه لیرې دي | ٨ |
| د رایې ورکونې لپاره کافي مرکزونه نشته | ٩ |
| نور (مهرباني وکړئ ځواب دلته ولیکئ) | ١٠ |
| نه پوهېږم | ٩٩٨ |
| نه غواړم ځواب ووایم | ٩٩٩ |

۱۲،۱. د تاسو په اند خلک به ولې د تاسو په ولایت کې د رایې ورکونې په بهیر کې ګډون ونه کړي؟

| | |
|---|---|
| کلتوري خنډونه یې په ټاکنو کې د ګډون د مخنیوي لامل کېږي | ١ |
| ټاکنیزو کمیسیونونو باندې باور نه لري | ٢ |
| وسله وال مخالفین یې په ټاکنو کې د ګډون مخنیوی کوي | ٣ |
| د ټاکنو له اصل سره مخالفت لري | ٤ |
| نور (مهرباني وکړئ ځواب دلته ولیکئ) | ٥ |
| نه پوهېږم | ٩٩٨ |
| نه غواړم ځواب ووایم | ٩٩٩ |

## E. د ټاکنیزو اصلاحاتو د کمیسیون جوړښت

۱۳. څومره همغږي یاست چې ټاکنیز اصلاحات به په راتلونکي کې د ازادو او عادلانه ټاکنو لپاره لار هواروي او د ټاکنیزو اصلاحاتو لپاره د هڅو همغږي کولو لپاره ښه لار شمېرل کېږي؟

| | |
|---|---|
| ډېر زیات | ١ |
| زیات | ٢ |
| لږ | ٣ |
| ډېر لږ | ٤ |
| نه پوهېږم | ٩٩٨ |
| نه غواړم ځواب ووایم | ٩٩٩ |

۱٤. د ملي یووالي د حکومت رامنځته کېدو د هوکړه لیک له مخې د ټاکنیزو اصلاحاتو کمیسیون د افغانستان د ټاکنیزې ادارې، سیستم او بهیر کې د اصلاحاتو لپاره جوړېږي. درې مهمې پایلې چې د دغه کمیسیون له کړنو څخه باید لاس ته راشي، په ګوته کړئ.

| | |
|---|---|
| د ټاکنیزو اصلاحاتو د لنډمهالو او اوږدمهالو موخو په ګوته کول | ١ |

| | |
|---|---|
| د ټاکنیزو اصلاحاتو لپاره د یوې ملي استراتیژۍ جوړول | ۲ |
| د تېرو ټاکنو د نیمګړتیاو په ګوته کول | ۳ |
| د راتلونکو ټاکنو پر ترسره کولو څارنه | ٤ |
| د راتلونکو ټاکنو تر سره کول | ۵ |
| د ټاکنیزو کمیسیونونو لپاره د نویو غړو ټاکل | ٦ |
| د افغانستان د ټاکنیز چوکاټ، ټاکنیزو قوانینو او د ټاکنو د ترسره کوونکو بنسټونو ارزونه | ۷ |
| د بیلابیلو ټاکنیز حوزو او ټاکنو ډولونو په کچه د ټاکنو تر سره کولو په هکله د تخنیکي میکانیزمونو/ ورتیا مطالعه او پلټنه | ۸ |
| د ټاکنیزو اصلاحاتو د لندمهالي او اوږدمهالي عملي طرحې وړاندې کول او پلي کول | ۹ |
| د ټاکنو د بهیر سلامت د تضمین لپاره د مسوول بنسټونو د رول د توپیر د طرحې رامنځته کول | ۱۰ |
| نور (مهرباني وکړئ ځواب دلته ولیکئ) | ۱۱ |
| نه پوهېږم | ۹۹۸ |
| نه غواړم ځواب ووایم | ۹۹۹ |

۱۵. درې بنسټیزې ځانګړنې چې تاسو یې د ټاکنیزو اصلاحاتو د کمیسیون غړو لپاره اړین بولئ ترڅو د هغو د کاري اغېزمنتیا د زیاتوالي لامل شي، په ګوته کړئ.

| | |
|---|---|
| باید ښه او صادق مسلمان وي | ۱ |
| حزبي سابقه او یا د سیاسي ایتلاف او حزبونو برحاله غړیتوب ونه لري | ۲ |
| لږ تر لږه د لیسانس تحصیلي درجه ولري | ۳ |
| ۲۵ کاله عمر یې پوره کړی وي او ډېر زوړ هم نه وي | ٤ |
| عالي لیډلوری او پیاوړی مدیریت ولري | ۵ |
| د ټاکنو اړوند برخو کې کافي تجربه ولري (د ټاکنو اداره، له ټاکنو څخه څارنه، د ټاکنیزو کړکېچونو هواری او څېړنه) | ٦ |
| د بشري حقونو، د ښځو حقونو او سیاسي حقونو په برخه کې یې کار کړی وي | ۷ |
| په کاري برخه کې غوره نوم او ښه سابقه ولري | ۸ |
| یوازې د افغانستان تابعیت ولري | ۹ |
| نور (مهرباني وکړئ ځواب دلته ولیکئ) | ۱۰ |
| نه پوهېږم | ۹۹۸ |
| نه غواړم ځواب ووایم | ۹۹۹ |

۱٦. د ټاکنیزو اصلاحاتو لپاره د ټاکنو اړوند بنسټونو همکاري اړینه شمېرل کېږي. د تاسو په اند کوم بنسټونه باید په ټاکنیزو اصلاحاتو کې تر ټولو ډېره همکاري وکړي؟ درې بنسټه په ګوته کړئ.

| | |
|---|---|
| د ټاکنو خپلواک کمیسیون | ۱ |
| د ټاکنیز شکایتونو خپلواک کمیسیون | ۲ |
| د ملي یووالي حکومت | ۳ |

| | |
|---|---|
| د هېواد پارلمان او د خلکو استازي | ٤ |
| د مدني ټولنې بنسټونه | ٥ |
| سياسي حزبونه او ايتلافونه | ٦ |
| رسنۍ | ٧ |
| نور (مهرباني وکړئ ځواب دلته وليکئ) | ٨ |
| نه پوهېږم | ٩٩٨ |
| نه غواړم ځواب ووايم | ٩٩٩ |

## F. په راتلونکو ټاکنو کې اصلاحات

١٧. د ټاکنيزو کميسيونونو په جوړښت او قوانينو کې اصلاحات اړين بولئ؟

| | |
|---|---|
| هو | ١ |
| نه | ٢ |
| نه پوهېږم | ٩٩٨ |
| نه غواړم ځواب ووايم | ٩٩٩ |

١٨. په راتلونکو ټاکنو کې د ټاکنيز سيستم له بدلون سره داسې چې په پارلمان کې د سياسي حزبونو شتون پياوړی کړي، همغږي ياست؟

| | |
|---|---|
| هو (١٨,١ پوښتنه ځواب شي) | ١ |
| نه (١٩مه پوښتنه ځواب شي) | ٢ |
| نه پوهېږم (١٩مه پوښتنه ځواب شي) | ٩٩٨ |
| نه غواړم ځواب ووايم (١٩مه پوښتنه ځواب شي) | ٩٩٩ |

١٨,١. د تاسو په اند که چېرې ټاکنيزو سيستم بدلون وکړي، سياسي حزبونو لپاره څومره څوکۍ په پام کې ونيول شي؟

| | |
|---|---|
| مهرباني وکړئ شمېر دلته په اعدادو وليکئ<br>[ ] [ ] [ ] | |
| نه پوهېږم | ٩٩٨ |
| نه غواړم ځواب ووايم | ٩٩٩ |

١٩. د تاسو په اند د ټاکنيزو کميسيونونو پر مټ پارلمان ته د کلني استماعيه کاري رپوټ او له هرو ټاکنو وروسته د رپوټ وړاندې کول به څومره د دغو کميسيونونو د غړو د ځواب ويلو ميکانيزم پياوړی کړي؟

| | |
|---|---|
| ډېر زيات | ١ |
| زيات | ٢ |
| لږ | ٣ |

| | |
|---|---|
| ډېر لږ | ٤ |
| نه پوهېږم | ۹۹۸ |
| نه غواړم ځواب ووایم | ۹۹۹ |

۲۰. تاسو همغږي یاست چې د ښځینه نوماندانو لپاره د نوماندۍ شرایط (ملاتړیز کارتونو شمېر، د تضمین پیسې،...) اسانه شي؟

| | |
|---|---|
| هو | ۱ |
| نه | ۲ |
| نه پوهېږم | ۹۹۸ |
| نه غواړم ځواب ووایم | ۹۹۹ |

۲۱. د تاسو په اند د مالي جریمې سربېره چې د درغلي کوونکو او سرغړوونکو لپاره د ټاکنو په اوسني قانون کې په ګوته شوي، کومه بله کړنلاره په قانون کې ځای په ځای شي ترڅو د ټاکنیزو درغلیو او سرغړونو د کمښت لامل شي؟ یوه کړنلاره په ګوته کړئ.

| | |
|---|---|
| د جرم په پام کې نیولو سره په قانون کې د نغدي جریمې سربېره حبس په ګوته شي | ۱ |
| د سزا په قانون کې پراخې درغلۍ تعریف او جرمونه یې په ګوته شي | ۲ |
| د ټاکنیزو جرمونو د په ګوته کولو او پلټلو لپاره ټاکنیزه محکمه جوړه او جلا قانون ورته جوړ شي | ۳ |
| نور (مهرباني وکړئ ځواب دلته ولیکئ) | ٤ |
| نه پوهېږم | ۹۹۸ |
| نه غواړم ځواب ووایم | ۹۹۹ |

۲۲. د تاسو په اند د ټاکنو خپلواک کمیسیون د غړو کمښت څومره د لازیات مسوولیت منلو رامنځته کېدو لامل کېږي او د هغو د کاري اغېزمنتیا زیاتوي؟

| | |
|---|---|
| ډېر زیات | ۱ |
| زیات | ۲ |
| لږ | ۳ |
| ډېر لږ | ٤ |
| نه پوهېږم | ۹۹۸ |
| نه غواړم ځواب ووایم | ۹۹۹ |

۲۳. د تاسو په اند د ټاکنیزو کمیسیونونو غړو ته په کاري برخه کې د ځانګړي مسوولیت ورسپارل څومره د مسوولیت منلو د زیاتوالي لامل کېږي او د هغو کاري اغېزمنتیا زیاتوي.

| | |
|---|---|
| ډېر زیات | ۱ |
| زیات | ۲ |
| لږ | ۳ |

| | |
|---|---|
| ډېر لږ | ٤ |
| نه پوهېږم | ۹۹۸ |
| نه غواړم ځواب ووايم | ۹۹۹ |

٢٤. د تاسو په اند د ټاکنو کميسيون ولايتي دفتر په ولايتي کميسيونونو باندې بدلېدل به د ټاکنو په اداره، روڼتيا او سلامتيا کې مرسته وکړي؟

| | |
|---|---|
| هو | ١ |
| نه | ٢ |
| نه پوهېږم | ۹۹۸ |
| نه غواړم ځواب ووايم | ۹۹۹ |

٢٥. ټاکنيزو نوماندانو لپاره د حقيقي او حکمي کسانو د مالي مرستو محدوديت د ښې ټاکنيزې سيالۍ لپاره لار هواروي.

| | |
|---|---|
| همغږى يم | ١ |
| مخالف يم | ٢ |
| نه پوهېږم | ۹۹۸ |
| نه غواړم چې ځواب ووايم | ۹۹۹ |

٢٦. کله چې د پرېکړو پر سر د ټاکنو کميسيون او د ټاکنيزو شکايتونو کميسيون تر منځ کړکېچ رامنځته کېږي، د تاسو په اند وروستۍ پرېکړه بايد کومه مرجع وکړي؟

| | |
|---|---|
| د ټاکنو خپلواک کميسيون | ١ |
| د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون | ٢ |
| د دواړو يادو بنسټونو ګډ کميسيون | ٣ |
| نور (مهرباني وکړئ ځواب دلته وليکئ) | ٤ |
| نه پوهېږم | ۹۹۸ |
| نه غواړم چې ځواب ووايم | ۹۹۹ |

٢٧. ټاکنيزو پستونو لپاره د ټاکنيزو مبارزو د لګښت د اندازې په ګوته کولو پلوي ياست؟

| | |
|---|---|
| هو | ١ |
| نه | ٢ |
| نه پوهېږم | ۹۹۸ |
| نه غواړم چې ځواب ووايم | ۹۹۹ |

۲۸. د ټاکنيزو کميسيونونو د خپلواکۍ ساتلو ته په پام سره د ټاکنيزو کميسيونونو غړي په کوم ډول له پارلمان څخه رايه واخلي؟

| | |
|---|---|
| په ټوليزه توګه د تائيد رايه | ۱ |
| په يوازېتوب د تائيد رايه | ۲ |
| د باور رايه | ۳ |
| نور (مهرباني وکړئ ځواب دلته وليکئ) | ٤ |
| نه پوهېږم | ۹۹۸ |
| نه غواړم چې ځواب ووايم | ۹۹۹ |

**د ټاکنيزو کميسيونونو د جوړښت، دندو او واکونو د قانون د ۱۰ او ۲۸ مې مادو له مخې لاندې شرايط د ټاکنيزو کميسيونونو د غړو د ليرې کېدو لامل کېږي.**

- جنايت باندې محکومېدل
- د اړوند محکمې په حکم له مدني حقونو څخه بې برخې کېدل
- د دندې پر مهال په سياسي حزبونو کې د شاملېدو ثابتېدل
- د منلو وړ دليل پرته په پرلپسې توګه له ۲۰ ورځو زياته ناسوبتيا
- د نه روغېدو په ناروغۍ يا تل پاتې ناروغۍ باندې اخته کېدل چې د دندې پرمخ بېولو مخنيوی وکړي
- د هېواد ملي ګټو، د اساسي قانون، د ټاکنو قانون او نورو نافذه قوانينو احکامو ته نه پاملرنه
- تبعيض او يا قومي، ژبنی، سمتي، حزبي او مذهبي تعصبونو ته لمن وهل

۲۹. د پورتنيو شرايطو سربېره تاسو د ټاکنيزو کميسيونونو د غړو ليرې کېدو لپاره نور کوم شرايط اړين بولئ؟

| | |
|---|---|
| اداري او مالي فساد ته لمن وهل | ۱ |
| د بې پرېتوب اصل تر پښو لاندې کول او سياسي پلوي | ۲ |
| په پرلپسې توګه د کميسيون له ۳ غونډو څخه زياتو کې نه ګډون | ۳ |
| د دندې له موقف او واک څخه ناوړه ګټه اخيستنه | ٤ |
| په دنده کې ناغېړي او کم کاري | ٥ |
| نور (مهرباني وکړئ ځواب دلته وليکئ) | ٦ |
| نه پوهېږم | ۹۹۸ |
| نه غواړم چې ځواب ووايم | ۹۹۹ |

۳۰. د تاسو په اند کومه مرجع د ټاکنيزو کميسيونونو غړي ليرې کړي؟

| | |
|---|---|
| ولسمشرئ | ۱ |
| پارلمان | ۲ |
| لويه څارنوالی | ۳ |

| | |
|---|---|
| ستره محکمه | ٤ |
| د کمیسیون خپله غړو لخوا | ٥ |
| نور (مهرباني وکړئ ځواب دلته ولیکئ) | ٦ |
| نه پوهېږم | ٩٩٨ |
| نه غواړم چي ځواب ووايم | ٩٩٩ |

٣١. د تاسو په اند د ټاکنيزو شکايتونو د کميسيون د پرېکړو علني والی او د تصميمونو څرگندوالی تر کومه په روښتيا او د دواړو خواو د رضايت ترلاسه کولو کې اغېزه کولای شي؟

| | |
|---|---|
| ډېر زيات | ١ |
| زيات | ٢ |
| لږ | ٣ |
| ډېر لږ | ٤ |
| نه پوهېږم | ٩٩٨ |
| نه غواړم چي ځواب ووايم | ٩٩٩ |

٣٢. د تاسو په اند اړينه ده چي د ټاکنو کميسيون د دارالانشا د مشر مسووليتونه او واکونه د ټاکنيزو کميسيونونو د جوړښت، دندو او واکونو په قانون کې په کوته شي؟

| | |
|---|---|
| هو | ١ |
| نه | ٢ |
| نه پوهېږم | ٩٩٨ |
| نه غواړم چي ځواب ووايم | ٩٩٩ |

٣٣. د تاسو په اند تر ټولو ښه رول چي نړيواله ټولنه يې په راتلونکو پارلماني ټاکنو کې لرلای شي، څه دی؟ مهرباني وکړئ تر ٥ برخو په گوته کړئ.

| | |
|---|---|
| د مالي بودجي ورکول | ١ |
| د تخنيکي وسايلو برابرول | ٢ |
| د کميسيونونو د کارکوونکو د ورتيا لوړول | ٣ |
| د امنيت برابرول | ٤ |
| له ټاکنو څخه سياسي ملاتړ | ٥ |
| د عامه پوهاوي د پروگرامونو له لارې د عامه پوهاوي لوړول | ٦ |
| هغو بايد ښکېل نه وي | ٧ |
| نور (مهرباني وکړئ ځواب دلته وليکئ) | ٨ |

| | |
|---|---|
| نه پوهېږم | ۹۹۸ |
| نه غواړم چې ځواب ووايم | ۹۹۹ |

۳٤. د تاسو په اند د ټاکنيزو شکايتونو په کميسيون کې د رايې له حق پرته د ښارونکو غړو په توګه د دوه نړيوالو غړو شتون د دغه کميسيون په کاري روڼتيا کې څومره مرسته کولای شي؟

| | |
|---|---|
| ډېر زيات | ۱ |
| زيات | ۲ |
| لږ | ۳ |
| ډېر لږ | ٤ |
| نه پوهېږم | ۹۹۸ |
| نه غواړم چې ځواب ووايم | ۹۹۹ |

۳۵. په قانون کې د ټاکنيزو کميسيونونو د غړو د معاش او امتيازاتو په ګوته کول، اړين بولئ؟

| | |
|---|---|
| هو | ۱ |
| نه | ۲ |
| نه پوهېږم | ۹۹۸ |
| نه غواړم چې ځواب ووايم | ۹۹۹ |

د مرکې د پای وخت: _ _ : _ _ له غرمې مخکې ☐ / له غرمې وروسته ☐

## ضميمه ۵: په نظرپوښتنه کې د شامل د ولسي جرګې وکيلانو لېست

لاندنی لېسټ د ولسي جرګې د هغو وکيلانو ځانګړنې په ګوته کوي، چې په نظرپوښتنه کې يې ګډون وکړ.

| ولايت | د وکيل نوم | جنسيت |
|---|---|---|
| هلمند | شيخ نعمت الله غفاری | نارينه |
| | حبيبه سادات | ښځينه |
| | عبدالجبارقهرمان | نارينه |
| | معلم ميرولی خان | نارينه |
| هرات | صالح محمد سلجوقی | نارينه |
| | نجلادهقان نژاد | ښځينه |
| | مسعوده کروخی | ښځينه |
| | غلام فاروق مجروح | نارينه |
| نيمروز | فرشته امينی | ښځينه |
| | فريده حميدی | ښځينه |
| نورستان | مولوی احمدالله نورستانی | نارينه |
| | پروين نورستانی | ښځينه |
| ننګرهار | پيربخش ګرديوال | نارينه |
| | داکتر عصمت الله شينواری | نارينه |
| | الحاج حضرت علی | نارينه |
| | انجينر غفار | نارينه |
| | فرشته انوری | ښځينه |
| | ليلما ولی حکيمی | ښځينه |
| | شريف الله شينواری | نارينه |
| | سايمه خوګيانی | ښځينه |
| | اميرخان يار | نارينه |
| | حاج محمدعمر ننګيالی | نارينه |
| | الحاج اميرجان دولتزی | نارينه |
| ميدان وردک | انجينر حميده اکبری | ښځينه |
| لوګر | حاجی علی محمد شهيدی | نارينه |
| | الحاج محمداکبر استانکزی | نارينه |
| | حاجی محمداکبر ستانکزی | نارينه |
| لغمان | حاجی محمدحسن مموزی | نارينه |
| | زيفون صافی | ښځينه |
| | الحاج نقيب الله | نارينه |
| | الحاج محمدحسن مموزی | نارينه |
| کوچی | پروين درانی | ښځينه |

| ولایت | د وکیل نوم | جنسیت |
|---|---|---|
| | الحاج حسن صحرایی | نارینه |
| | حاجی حیدرخان نعیم زوی | نارینه |
| | الحاج محمدنذیر احمدزی | نارینه |
| | حمیده احمدزی | ښځینه |
| | محمدیوسف صابر | نارینه |
| کنړ | حاجی سخی مشوانی | نارینه |
| | حاجی صالح محمد صالح | نارینه |
| | وږمه ساپی | ښځینه |
| کندز | الله نظر نظری ترکمن | نارینه |
| | عبدالودود پیمان | نارینه |
| | کمال صافی | نارینه |
| کاپیسا | طاهره مجددی | ښځینه |
| | میرداد نجرابی | نارینه |
| | اقبال صافی | نارینه |
| کابل | عرفان الله عرفان | نارینه |
| | شیرولی وردک | نارینه |
| | ربابه پروانی | ښځینه |
| | عبدالحفیظ منصور | نارینه |
| | کبرا مصطفوی | ښځینه |
| | شکریه بارکزی | ښځینه |
| | داکتر جعفر مهدوی | نارینه |
| | فوزیه ناصریار | ښځینه |
| | الله گل مجاهد | نارینه |
| | حاجی هاشم مهدوی | نارینه |
| | الحاج ملاتره خیل محمدی | نارینه |
| | سیدعلی کاظمی | نارینه |
| | الحاج قیس حسن | نارینه |
| | حاجی محمدداود کلکانی | نارینه |
| کندهار | عطاالله حبیب | نارینه |
| | شکیبا هاشمی | ښځینه |
| | الحاج سیدمحمد آخوند | نارینه |
| | حمیده یوسفی | ښځینه |
| فراه | حمیرا ایوبی | ښځینه |
| فاریاب | رنگینه کارگر | ښځینه |
| | فوزیه رئوفی | ښځینه |
| | محمدهاشم اورتاق | نارینه |

| ولایت | د وکیل نوم | جنسیت |
|---|---|---|
| | آصفه شاداب | ښځینه |
| غور | سیما جوینده | ښځینه |
| | رقیه نایل | ښځینه |
| | داکتر ابراهیم ملکزاده | نارینه |
| | سیدنادرشاه بحر | نارینه |
| غزني | نفیسه عظیمی | ښځینه |
| | محمدعلی اخلاق | نارینه |
| | عبدالقیوم سجادی | نارینه |
| سمنگان | معصومه خاوری | ښځینه |
| | مخدوم ابدال الله | نارینه |
| سرپل | خیرمحمد ایماق | نارینه |
| | سیدمحمدحسن شریفی بلخابی | نارینه |
| | عزیزه جلیسی | ښځینه |
| زابل | حمیدالله توخی | نارینه |
| | عبدالقادر قلاتوال | نارینه |
| دایکندی | صادق زاده نیلی | نارینه |
| | شیرین محسنی | ښځینه |
| | سیدداودناصری سادات | نارینه |
| | اسدالله سعادتی | نارینه |
| خوست | میربت خان منگل | نارینه |
| جوزجان | بازمحمدجوزجانی | نارینه |
| | عبدالستار درزابی | نارینه |
| | بابر فرهمند | نارینه |
| | حاجی محمداسماعیل محمدی | نارینه |
| | عنایت الله بابر فرهمند | نارینه |
| تخار | عبدالباقی ملکزاده | نارینه |
| | سیداکرام الدین معصوم | نارینه |
| | مریم کوفی | ښځینه |
| | حبیبه دانش | ښځینه |
| پنجشیر | ظهیر سعادت | نارینه |
| | راحله سلیم | ښځینه |
| پکتیا | الحاج نواب منگل | نارینه |
| | محمدابراهیم غشتلی | نارینه |
| | حاج گل بادشاه مجیدی | نارینه |
| | داکترمجیب الرحمن سمکنه | نارینه |
| پروان | ذکیه سنگین | ښځینه |

| ولایت | د وکیل نوم | جنسیت |
|---|---|---|
| | خواجه صدیق احمد عثمانی | نارینه |
| | عبدالستار خواصی | نارینه |
| بلخ | محمد عبده | نارینه |
| | برشنا ربیع | ښځینه |
| | محمدفرهاد عظیمی | نارینه |
| | صفوره نیازی | ښځینه |
| بغلان | شکریه عیسی خیل | ښځینه |
| | ناجیه ایماق | ښځینه |
| | محمدعظیم محسنی | نارینه |
| | محي الدین مهری | نارینه |
| بدخشان | عبدالروف انعامی | نارینه |
| | عبدالولی نیازی | نارینه |
| | امان الله پیمان | نارینه |
| | محمدزکریا سودا | نارینه |
| بامیان | فکوری بهشتی | نارینه |
| بادغیس | سیدمحمدموسی | نارینه |
| | غلام سرور فایز | نارینه |
| | صفیه ایماق | ښځینه |
| | قاضی عبدالوصیم | نارینه |
| ارزګان | ریحانه آزاد | ښځینه |

## ضمیمه ۶: د ډله ییز بحثونو د ګډون کوونکو نوملړ

| شمېره | نوم | د بنسټ/موسسې نوم | کټګوری | دنده |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | شیرین محسني | ولسي جرګه | وکیل | د خلکو استازې |
| ۲ | عزیزه جلیس | ولسي جرګه | | د خلکو استازې |
| ۳ | جنرال نقیب الله | ولسي جرګه | | د خلکو استازی |
| ٤ | ربابه پرواني | ولسي جرګه | | د خلکو استازې |
| ٥ | ورمه صافي | ولسي جرګه | | د خلکو استازې |
| ٦ | نصیر احمد فرهمند | زرغون بهیر | سیاسي حزب | د حزب غړی |
| ٧ | ذاکره انور | اسلامي جمعیت | | د حزب غړې |
| ٨ | عادله بهرام | د افغانستان د جمهوري غوښتونکو حزب | | د حزب رئیسه |
| ٩ | سید عمر اعزامی | د افغانستان اسلامي حزب | | کلتوري رییس |
| ١٠ | عبدالولی فائیز | ملي محاذ | | د اجرائیه شورا غړی |
| ١١ | آستانه ګل شیرزاد | افغان ملت | | عمومي رئیس |
| ١٢ | رضا حسینی | د ښځو، سولې او امنیت لپاره د څېړنې انستیتوت | مدني ټولنه | سرمحقق |
| ١٣ | مینه | د افغان ښځو شبکه | | د عدالت غوښتنې مسئوله |

## د دغه رپوټ په هکله

دغه رپوټ په فیفا کې د څېړنې د ډلې پر مټ جوړ شوی دی.

د نظرپوښتنې ډله:

- هوسۍ دولتزی – سر گروپ
- پاینده محمد حکمت – سروې کوونکی
- هما رحیمي – سروې کوونکې
- سلیمان غالب – سروې کوونکی
- جاوید زاهد – سروې کوونکی
- حسیب معترف – سروې کوونکی

لیکونکي:

- محمد عقیل آزاد *(د اطلاعاتو څېړونکی)*
- علی اکبر حیدري
- راهده حکیم

ژباړه:

- محمد احسان رشیدي

طرح او ډیزاین:

- محمد عقیل آزاد

لارښوونه او نظر:

- محمد نعیم اصغري – د پروګرام مدیر

د فیفا له ټولو کارکوونکو څخه مننندوی یو چې له نظرونو څخه یې د دغه رپوټ په لا سمون او ښه والي کې کټه اخیستل شوې ده.

ټول حقوق محفوظ دي، د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو موسسه (فيفا)، ۱۳۹۳. تاسو کولای شئ له دغه رپوټ څخه چاپ او ترې نقل قول وکړئ، خو په دې شرط چې اصلي منبع يې چې د فيفا موسسه ده، ياده کړئ او هغه ته يې راجع کړئ. هېڅوک حق نه لری د فيفا له اجازې پرته له دغه رپوټ څخه سوداګريزه ګټه واخلي او يا يې خپور کړي.

**دا نظرپوښتنه په ولسي جرگه کې د پارلمان له غړو سره د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو موسسې (فیفا) پر مټ تر سره شوې ده. د دغه رپوټ محتویات د گډون کوونکو پورې اړه لري او د فیفا یا لیکونکو د نظریاتو څرگندویي نه کوي.**